


urdu-classics.blogspot.com

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00032321 1
۱٦۰

پر اهبسي گڼه

# زوړ سړی او سیند

لیکونکی

ارنست هیمنګوې

PROPERTY OF ACKU 32321

مترجم

سعدالدین «شپون»

نیټه — اسد

شمیر — ۱۰۰۰

پښتو ټولنه

۱۳۴۰

ACKU

Download from: aghalibrary.com

اورنگ زیب قاسمی
ضلع مردان، تحصیل کاٹلنگ

دی یو زوړ سړی و چه به ما ګو کې به سپورو او ګلف ستریم کې به بې کبان نیول . څلور اتیا ورځې سیند ته تللی و خو یو کب یې هم نه و نیولی، په اولو څلویښتو ورځو کې یو هلک هم ورسره مل و، خو وروسته ترهغې د هلک مور او پلار خپل زوی ته وویل چه اوس نو ستا سپین ږیری بیخي بدمرغه شوی ، نو ی هلک له بل کب نیوونکي سره ولیږه چه په همغې لومړۍ ورځې یې بې ښه کبان ونیول.

هره ورځ چه به زوړ سړی تش لاس له سینده بیرته راو ګرځېد هلک به ورسره خپه وا و د زاړه سړي د چنګک مزي او لکړه او د ستنې ګیرچاپیر بادوان به یې کوټې ته ورسره ووړل.

بادوان څو ځایه د اوړو په جوال پیوند شوی و او لکه دا بدې ماتې بیرغ د اسې ښکاریده .

سپین ږیری بوډا سړی وچ په ور میږه یې ګونځې لیدل کیدې د تـو ر و ږخودانې به چه د تود وسیمه والمر نښې دی په باړ خو ګانو خوري وي لاسو یې د لویو کبانو د راښکلو په اثر ژورې لیکې اړلې ، دا لیکې او داغونه اوسنی نه و بلکه د وچ ډاګ د لوړو ژورو په شان زاړه و .

د زاړه سړي نور هر څه زاړه و چپ دده له سترګو چه لکه د سیند او به شنې او نه ماتیدونکې او د خوشالۍ له شغلو ډکې وې .

کوم وخت چه د زاړه د بحر څنډې ته را وخیژ او ما کوبې ننه ایست او بادوان یې

Download from: aghalibrary.com

ټول کړ ، هلك وویل : « سنتیاګو ! زه غواړم چه پیاله تا سره لاړ شم ، اوس خو موږ څو پیسې پیدا کړې دي . »

زاړه سړي هلك ته کب نیول ورزده کړي وا و په هلك ډیر ګران و .

زاړه سړي وویل : « اوس له یوه نیکمرغ ما کو سره یې ، همالته اوسه . »

هلك وویل : « په یاد دې دي چه ها یل وار مواوه اتیا ورځې یو کب هم و نه نیو او وروسته موږ درې هفتې هره ورځ کبان نیول ؟ »

زاړه سړي وویل : « هو په یاد مې دي ، زه پوهیږم چه ته ماددې دپاره نه پرېږدې چه ګ-و ند ې دما په کب نیولو شکمن یې . »

هلك وویل : « ابامې مجبور کړي یم چه تا پرېږدم ، زه لا هلك یم او باید دهغه خبر و منم . »

زاړه سړي وویل : « پوهیږم ، دا طبیعي شی دی . »

هلك وویل : « هغه دتا په مهارت کښې شك لري . »

زاړه سړي وویل : « هو ! خو زه او ته شکمن نه یو . همداسې نه ده ؟ »

هلك وویل : « دو ! که اجازه وی یو بوتل بیر به درته واخلم ، بیا به اسباب کور ته ورسوو . »

زاړه سړي وویل : « هو ! ولی نه ؟ ددوو کب نیوونکو ملګرو په شیر . »

دواړه دساحل سره نژدې په چوترې کینا ستل ، ډیرو کب نیوونکو به زاړه سړي مسخرې کولې خودی نه خپه کېده ، زړو کب نیوونکو چه به ورته و کتل ورته څور پدل به ، خو خپل خپګان به یې نه ښکاره کاوه او په ډیر مهذب ډول به داو بود ژوروالی او دښې هوا په باب کښې غږیدل .

کب نیوونکی اګیاوه د کبانو نسونه یې څیرل او بیا یې ددوو لر ګیو په سر موټر ته خیژول ، چه بیا به له هغه ځایه دهوانا بازارته دخرڅلا ودپاره وړل کیدل .

کومو کب نیوونکو چه نهنګان نیولی وو په هابلې خوا کښې یې په لښتو پوری تړلی وو ، دنهنګانو لری ، کولمې ایستل شوی وې او دشا ښې یې غوښې ش-وې وې ، پوستکی یې هم ایستل شوی واو غوښه یې دما لګی کولو دپاره ټوټې ټوټې شوې وه کله به چه بادد لمر خاته له خواو ، نو دنهنګ له مسلخه به دغو ښې بوی

ACKU

Download from: aghalibrary.com

ور سره راته ، خونن دشمال مخه دې خوانه‌وه‌اودچوترې په سرښه تود پېښاوی و .

هلك زاړه سړی ته و کتل او ويې ويل: «سنتیا ګو ! » .

سانتیاګو وویل : « ګیلاس مې به لاس کښې نیولی‌واود ډېرو ښخو انو وخت‌و به‌ فکر کښې ډوب وم » .

هلك وويل : « اجازه دې‌ده چه‌سباته لپز ساردين درته راوړم ؟»

«نه : ته ورځه دبیس بال لوبه و ګوره .زه‌اوس هم‌ماکو چلولی شم او را جیلو به‌جال او بوته وا چوی .»

هلك وو يل : «خو زه ښځپله غواړم چه‌دتاسره‌لاړشم ، که کب‌نشم‌درسره نیولی، کوم بل کار خو به و کړم »

«تا ماته بیروا خسټال . اوس‌نود لوبو سړ یوپه ډلی کښې شمیر ل کېږي .»

«زه څومره هلك وم‌چه اول ځلی له تاسره په ماکو کښې سپور شوم ؟»

« پنځه کلان بووې . کوم وخت‌چه‌به ماکب‌ماکوته خېژ اوه‌دتابه له و یرې زاره ورته چاود له‌اونژدې‌به وچه ماکو په‌بل‌مخ واوړی.»

هلك‌وويل: « زماپه یادېږي . د کب‌لکۍ‌به دې‌خواهواړه تیده‌اوتابه‌به کـو تك واهه ، زماپه یاددی چه‌زه دې‌دماکوبه هوغه بل ګوټ کښې دمز و پـه کـړ ی وغورځولم‌اوبه کب‌دې‌پېښه‌و کړه‌اوواهه‌دې.د کب‌دوینی‌وزم ټول‌ماکوپه‌سرراخیستی‌و.»

«په‌ر ښتیا دې به یادېږي او که مادرته قصه کړی ده ؟»

« له هغې ورځې چه له تاسره‌سیند ته‌وتلی یم‌هرشی مې‌به یادد ی »

زاړه‌سړی‌په لمرځپلواومینه نا کوستر ګو هلك ته‌و کتل . ويې‌ويل : « که‌ته زما زوی وای نوبه مې دځانه سره بوولی وای خوته ځانته پلارلري اوبله‌داچه دیوه نیکمرغ ماکو سره یې.»

هلك وو يل : «اجازه ده چه ساردين درته راوړم . څلور ډ شو مې کبان به هم راسره را وړم چه‌بی‌بیاپه‌چنګك کښې‌و ږدې .»

«ما هغه خپله ښخوانه شومه په مالګي کښې ایښی ده » .

Download from: aghalibrary.com

« زه به تازه شومه راوړم ».

د زاړه سړي امیدواري او پرځان ویسا هیڅکله تري نه وه تللې، خو اوس یې د سینه دپاسته باده سره احساسات بیا تازه راو پار ېدل. و یې و یل: « ډیر و »
هلك وویل: « نه ـ دوه ».

زاړه سړي وویل: « ښه دوه راوړه. له چا خو به دې غلا کړې نه وي! »
هلك وویل: « له غلا هم نه ویرېږم، خو دا مې په بیه اخیستي دي. »
زاړه سړي وویل: « تشکر »

زوړ سړی دومره ساده وو چه هیڅ یې په یاد نه و چه ده داشکسته نفسي له کومه وخته زده کړې، خو دومره پوهېده چه شکسته نفسه وا وبه دې هم پو هېده چه دا حس د لوړ تیالار نه نیسي او ربښتیني همت له میړه نه ور کوي.

ویې ویل: « له دې شماله داسې ښکاري چه سبا به ښه ورځ وي »
هلك وویل: « چیرته رو ان یې! »
« لیري کوم داسې ځای ته ځم چه تر شو بیرته راځم د با د مخه ګرځېد لی وي. »
هلك وویل: « زه به هم خپل ما کو خلك دې ته را کړم چه ښه لیرې درشي » .
نه ویل کیږي که دې یو ربښتیاني غټ کب ګیر ته درغی مونږ به دې مرستې ته درور سیږو .
زاړه سړي وویل: « هغه چه ته ور سره یې له ساحله دومره نه لیري کیږي. »
« خو زه به داسې شي و ګورم چه دي یې نشي لیدلی. داسې شي چه د کب نښه وي نو به یې په همدې چل لیري در ولم . »
« ته وایې ستر ګې به یې دومره کم نظیر وي؟ »
« هو! پوه ندي خوړ انده ته نژدې دي ».
زاړه سړي وویل: « عجیبه خبره ده. ده خو هیڅکله د کشپانو ښکار نه دی کړی.
د کشپ ښکار د سړي ستر ګې چو ري ړ نه وي »
هلك وویل: « تا خو ټول عمر د کشپانو ښکار کړی او ستر ګې دې لار کې روغې دي »
« زه عجیبه شا نتا سړی یم . »

ACKU

هلك وويل «دراځه چه سامان کاله ته ورسوو. بيا به نو زه جال واخلم او څه ساردين په کښتي ونيسم».

سامان يې له ما کورا وا خيست. زاړه سړي د بادوان ډانګه په اوږو کړه او هلك چنګك او شلګۍ او بکس وا خستل. په بکس کښتي د ننه د تور مزي کړۍ وه.

د کب شومه او هغه کوتك چه کب يې پرې وا ژه په ما کو کښتي پاتي شو. زوړ سړی پوهېده چه له ده به څوك غلا ونکړي خو د مزو د کړۍ او د بادوان تر پرېښودو يې وړل ښه و ځکه چه د شپې پرخ خرابول. دی پوهېده چه چنګك او شلګۍ هم د ساحل کب نيوونکي نه پټوي خو په ما کو کښتي يې پرېښودل بيځايه کار و.

هلك او زوړ سړی دواړه په سړك د زاړه سړي د کوډۍ خواته روان شول. د کوډۍ ور خلاص و او دوی په کښې ننوتل. زاړه سړي ډانګه چه د بادوان تو ته ورنه تاوه د ديوال له ته تکيه کړه او هلك يې چنګك او بکس تر څنګ کيښودل.

ډانګه د کوډۍ د يوه ديوال له په اندازه اوږده وه. د زاړه سړي کوډۍ د ځيړۍ د پو ټکي څخه جوړه وه. پکښې يو کټ، يو ميز او يوه چوکۍ ايښې وه، يو خاوړين نغرۍ په کښې و چه په سکرو پخلی پکښې کېده. د ديوالو د لرګيو په ږږو پاڼو د مقدس مسيح او خواجه کوبر ځيرې ځړېدلې وې. دا ځيرې د ده د ښځې د لاس نښې وې. پخوا به په دې ديواله د ده د ښځې يو عکس هم و، خو اوس يې په الماری کې د خپل پريولي کميسه لاندې ځړولی و ځکه کوم وخت چه به په ديواله ځوړند و په ليدو به يې خپله بيکسي او يوازېتوب ستر ګو ته ودرېده.

هلك پوښتنه وکړه: «د خوراك د پاره څه شي لرې؟»

«يو ښښك سړې ورجې دي د څو کبانو سره. زړه دې ور ته کېږي؟»

«نه زه به يې په کور کښې وخورم. په نغرۍ کښې در ته اور بل کړم؟»

« نه پخپله به یې بیا بل کړم او یا به یې همدا سې سړې وخورم . »

« اچا زه د چه زه جال د ځانه سره واخلم ؟ ».

« هو . ولې نه » .

هلك او زوړ سړی دواړه پوهېدل چه جال مال نشته جال یې لا د وخته خرڅ کړی و خو دوی به هم دهماغی تخیل کاوه . هلك په دې هم پوهېده چه د سړی وریجو نښنك او کبان هم مازې خیال و . تش ځان یې خوشالاوه .

زاړه سړي وویل: « پنځه اتیاومه ورځ نیکمرغه وی . ځنګه به ښه وی چه سبا ته لاړشم او یو غټ پنځه شلو پښت منی کب در ته راوړم . »

هلك وویل: « زه به اوس جال د ځانه سره یوسم او څه ساردین به په کښې ونیسم . »

زاړه سړي وویل: « ښه ته ورځه ساردین راوړه . ماسره پرونۍ ورځپاڼه شته کرار به په کښې د پرونی بیسبال لوبه ولولم . »

هلك نه پوهېده چه د اخبار خبر هم خیالی و که نه ، خو زاړه سړی اخبار د خپل بالښت له لاندې وایست .

هلك وویل: « چه ساردین می ونیول بیرته به راشم ستا او خپله برخه به په یخ کښې وساتم چه خراب نشی . سبا ته به ئې سره وویشو . چه راغلم ته به راته د بیسبال قصه وو ابی . »

« یانکی ضرور لوبه ګټی » .

« زه خو د کلیو لینډ د هندیانو له تیمه ډېر ډېرېږم . »

« بچیه په یانکی تیم باور لره او چرت مه خرابوه . »

« ورځپاڼه ولوله بیا ما ته قصه وکړه »

« راځه چه د پنځه اتیا په شمېر یوه د لاټری نمره واخلو . سبا ته پنځه اتیاومه ورځ ده . »

« ښه ده وا به یی خلو خو په اوه اتیا کښې څه وا بی . په یاد دې نه دی چه اوه اتیاومه ستا تاریخی ورځ وه چه د کب نیولو ریکارډ دې په اوه اتیاومه ورځ مات کړ ؟ » .

« دوه واری سر به سر یوه ورځ نه راځی . پنځه اتیاومه نمره به پیدا کړې ، »

هلك وویل « هو پیدا به یې کړم . »

ACKU

«پیسې به له کومه کړو؟».

هلک وویل: «اسانه دی زه به یې د چانه پور کړم.»

زاړه سړه وویل: «زه یې هم پور کولی شم خو زړه مې نه غواړي چه له چا یې وغواړم چه نن پور و کړي سبانه به سوال روږدی کېږي.»

هلک وویل: «ځان تود ساته. په یاد لره چه د میزان میاشت ده»:

زاړه سړي وویل: «د میزان په میاشت کې غټ کبان راځي. د جوزا په میاشت کې خو هر سړی کب نیولی شي.»

«زه د غه دی د سار دین پسې لاړم»:

چه هلک بیرته راغی زوړ سړی د چوکۍ د پاسه خوب وړی و. لمر هم پرېوتی و،

هلک له کټه بړستن واخیسته او د زاړه سړي په اوږو یې وغوړوله. د زاړه سړي اوږې عجیبې شانتې وې. زړه یې خو قوي، ورمیږی یې هم قوي و. اوس چه زوړ سړی ویده او سر یې په سینې پروت و د ورمیږه ګنځې یې دومره نه ښکاریدې. کمیس یې د ډېرو پیوند و له لاسه لکه د ده د ما کو بادوان داسې زړه او د لمر تاوې یې پیوندونه شړولي وو. د ده د سر څخه دومره د زړتیا نښې بریښېدې چه په ویده داسې نه ښکاریده چه ساه دې ولري. ورځپانه یې په زنګانه پرته وه او د ماښام باد یې پانې اړولې را اړولې. پښې یې لوڅې وې.

هلک دې په همدې حال پرې ایښې و او چه بیرته راغی په هماغه حال خوب وړی و.

هلک لاس د بوډا په زنګانه کېښود او وې وویل: «بابا! پاڅه!»

زاړه سړي سترګې پرانستلې او له ډېر ځنډه نه وروسته موسکی شو.

له هلکه یې پوښتنه و کړه «څه شی لرې؟».

هلک وویل: «ډوډۍ، راځه چه ډوډۍ وخورو.»

زاړه سړي وویل: «چندان وږی نه یم».

هلک وویل: «راځه وخوره! کب نیول او ډوډۍ نه خوړل د چا د لاسه کېږي.

زوړ سړی پاڅید. ورځپانه یې تاو کړه او د بړستنې په تولولو یې پیل وکړ.

هلك وويل: «برستن په اوږو در واچوه ساړه دي. ترڅو زه ژوندى يم تل به بړى نږدې چه په اوږى نس كېږي او نيسي.»

زاړه سړي وويل: «تر ډېره دې ژوندى يې. څه شى دې راوړى دى»

«لېږه لوبيا، وريجې، كېله او لږ څه يخني.»

هلك خوراك په يو مسي لوښي كښې راوړى وو. دوه چړى او پنجه يې هم په جيب كې وې چه هره چاړه او پنجه په يو كاغذ كښې نغښتې وه.

«داچا در كړل؟».

«مارتين»

«زه بايد ترې تشكرو كړم».

«تشكر مې څخه كړى دى. ستا تشكر ته حاجت نشته».

«زه به ديوه لوى كب دلنډى غوښې ور كړم ځكه چه څو واري يې موږ سره مرسته كړې ده.»

«هو».

«نو بايده دې چه د كب دلنډى له غوښې نه هم ښه شى ور كړم. په موږ ډېر زهير دى»

«د بير دوه بوتلونه يې هم را ليږلي دي.»

زما د قطى بير خوښ دى.»

هلك وويل: «خودا بير په بوتلو كښې دى او تش بوتلونه بير ته ور وړم.»

«ته ډېر په ما زهير يې. راځه چه بسم الله كړو.»

هلك وويل: «څو واري مې درته وويل: چه وخوره. مانه غوښتل چه دلوښې سر ترهغې پرانيزم ترڅو ته تيار شوى نه يې»

«اوس نو تيار يم تش دومره وخت ماته په كار و چه مخ او لاس پرې مينځم».

هلك فكر وكړ چه چيرته به يې مخ مينځلى وي. د كلي ويا له ډېره ارې وه.

زه بايد او به هم دلته ورته راوړم صابون يې هم بايد دروېمال سره هم دلته راوړى واى ښه يې فكره يم. بايد بل كميس ورته پيدا كړم د ژمې د كرتې او وڼانو او

ACKU

دړمې دباره دیوي بلې بر ستنې غم هم باید ورته وخورم.

زاړه سړي وویل: « داستا یخني څو مره خونده وره ده. »

هلك پوښتنه وکړه: « دیسبال قصه راته وکړه. »

زاړه سړي وویل: « دیا نګي ټیم لو به وګټله. »

هلك وویل: « نن یې بایلوده »

زاړه سړي وویل: « پروا نلري بیرته بې ګټي ځکه چه ډیما ګو په کښې ده »

« چپ له ډیما ګو نور خلك هم شته » .

« هو ! خو ډیما ګو بل شانته سړی دی په هابال میچ کې چه د برو کلین او

نلا. لفیاتر مینځ کېږي زه وایم چه برو کلین به لو به وګټي خو ور وسته بیا

ډیك سیسلر را په یادشي چه د ده غوندي بل هیڅوك پښو سکه د و مره لیري نشي

ویشتی په یاد دې دي چه د بحر غاړې ته به کله کله راغی یو دور ځ مې زړه وشو چه ورته

ووایم زه مونږ سره کب نیولو ته لاړشې خو بیا وشرمیدم .

تاته مې وویل : چه ور ته ووایه خو ته هم وشرمیدې » .

هلك وویل: « هو! په یادمې دي ډیر خطاو تاو . که ور تلو بلې مو وای را سره تللی به و او

درست عمر به مو دا خوږه خاطره یادوله . »

زاړه سړي وویل: « زما هیر زړه کیږي چه ډیما ګو د ځانه سره وځم. خالك وایي چه

ده پلار هم کب نیوونکی و. خدازده دی به هم لکه د مونږ پاشان غریب و او زه مونږ بلنه

بایې منلې وه د سیسلر پلار خو غریب نه و او ان تر هر ګه ی ټیم و نو کې او بې کوله.

کوم وخت چه زه ستا په منګ وم د یوې بیړۍ د بادوان په ډول د بې مې کوله او افریقې ته به

ورسره تللم . ما ښامې به مې ډیر ځمری د سیند په غاړو لیدل . د افریقې قصه در ته

وکړم که دیسبال » .

هلك وویل : « دیسبال د جان مك ګرا قصه راته وکړه.

« کله کله به مك ګرا ساحل ته راته خو ډیر زیږ او ترټ پرې و په تیر دیاچا ه بی کرم

وخت شراب څښلې و نو به یو خبره دوه نه ور سره کیده د آس و ر ای سر د ی هم مینه ور ه

او د نا هتو آساو د نود و امت ټې هم پیشه با حب کې ګر ځاوه اولا ډیر کاله ې

په ټلفون کې د آس خبرې کولې ».

هلك وويل: « ماك ګراهير بوى سړى و. پلار مې ويل دى تر ټولو خلكو پوه و »

زاړه سړي وويل: « دا ځكه چه ماك ګرادلته ډير راته ».

ده دورو چرهر كال دلته راغلى واى پلار به دې ويلى چه دورو چر تر ټولو پوه دى. »

هلك پوښتنه وكړه: « نو څوك ښه پوه دى؟ ».

« ټول يو رنګه دى. »

« او تر ټولو ښه كب نيوونكى ته يې ».

« نه ډير داسې خلك پيژنم چه تر ما په كب نيولو كښې تكړه دى. »

هلك وويل: « ښه كب نيوونكى او تكړه كب نيوونكى ډيردى خو ته په كښې ساري نلرى. »

« تشكر ته هميشه ما خوشال ساتې. خداى دې داسې كب نه را باندى برابروى چه دواړه دور ته در وغځن شو. »

« ګه ته دومره قوى يې لكه واىې چه نو داسې ماهى په سيند كښې نشته چه د تانه خلاص شي. »

« زه به دومره قوى يم كه به نه يم خود كب نيولو ډير چمونه مې زده دى او ډيره قوى اراده لرم »

هلك وويل: « ته نو اوس بيرته پريوزه چه سبانه تكړه راپاڅېږې زه به لوښى يوسم »

زاړه سړي وويل: « ښه نو خداى په امان سباته به دې راويښ كړم. »

« زما د ويښيد و ساعت ته يې. »

زاړه سړي وويل: « زما ساعت عمر دى. دا زاړه خلك ولې دومره دوخته راپاڅېږي؟ » دا به ځكه داسې وى چه دژوند بله ورځ و ګوري كه څنګه؟ »

هلك وويل: « نه پوهيږم خو دومره پوهيږم چه ځوانان ډير خوب او درو ند خوب لري. »

زاړه سړي وويل: « ورځه نو سباته به دې ويښ كړم. »

« زه نه غواړم چه پلار مې ماويښ كړي. ځان راته ورو كې شان ته ښكاره شي. »

« پوهيږم »

« با با ښه پوره خوب وكړه. »

ACKU

هلك له كوډي ووت . دوى په تيارى كښې ډوډۍ خوړلې وه . زاړه سړي بړستوګ وايست او په تيارى كې پخپل كټ بريووت . بړستوګ يې لكه بالښت تاو كړ او ورځپاڼې يې په مينځ كې كيښوده . بړستن يې تر ځان تاو كړه او په هغو نورو زړو ورځپاڼو چه د چپر كټ په سپرنو غوړيدلې وې بريووت او ډير ژر خوب يووړ .

خوب يې ليده چه كوم وخت په هلكتوب كې د بيړۍ سره افريقې ته تللى و د ساحل شګو به يې دا مر در نها لاندې ستر ګې يوړې . په دې وختو كښې به يې هره شپه هماغه د افريقې منظره په خوب ليده . د بيړۍ هغه تروش د زم بې او س هم تر پوزې و چه د سهار د باد سره به له سينده را اوچت شو . پخوا به يې چه كوم وخت د اوږم تر پوزې كيده نو بيا له خوبه پاڅيد او د هلك د ويښولو د پاره به روان شو . خو نن شپه باد ډير د وخته راغى او دى پوهيده چه لا سبا ندى نو بيرته ويده شو . په خوب كښې يې د ټا پوګا نو سپينى څوكې ليدلې چه له بحرنه را اوچتې شوي وې .

نور يې نود طوفانو نو او ښځو او لويو پيښو خوب نه ليده . نه يې كبان يې هم په خوب نه ليدل او نه يې د جګړې او قوت خوبونه ليدل . خپله ښځه يې هم په خوب نه ليده يوازې يې د افريقې د بحر وغاړې او ځمريان ليدل . ځمريانو لكه پيشو نګو رويو ل سره لوبې كولى . دا ځمرى يې زاړه سړي لكه هلك د ومره ګران وو .

له خوبه كښيناست . له دروازې نه يې د باندې سپوږمۍ ته وكتل بړستوګ يې د بالښته له لاندې را وايست او وا يې غوست . د كوډې نه د باندې سارا ګشت تالاړ او بيا هماغسى د هلك د ويښولو د پاره د هغه د كاله پاطرف روان شو . د هلك دانګړور زنځير نه وو وروبې پرانيست او په لو څو پښو غلى غلى د هلك د كوټې خوا ته ورغى .

هلك په خپلې كوټې كښې په كټ ويده وا و د كوټې د كړ كۍ څخه د سپوږمۍ اخيرې وړانګې وربا ندې لويدې . د هلك يوه پښه يې كرا ره په لاس كې ونيوه له تر هغې چه هلك په اړخ وا ووښت او ستر ګې يې زاړه سړي ته واړو لې . زوړ سړي ورته

ACKU

موسکی شو . هلك خپل پر تو ګ له چو کیډ وا خیست او هما غسی یې په ملاستی واغوست .

زوړ سړی له کو ټی ووووت او هلك هم ور پسی روان شو . د هلك ستر ګې له خوبه ډ کې وې . زاړه سړي یې په اوږو لاس کیښود او وې ویل: « ومی ښه چه له خو بهې ویښ کړې » .

هلك وویل: « پروا نلري » .

دواړه دزاړه سړی د کوډی په لور روان شول . لانیاره وه دورو ښه ی ا بله کب نیوونکو ښیو ښهاررانه چه دخپلو دما کو ګانو خواته روان و و .
دزاړه سړي په کرډی کښې هلك دمزی کړی چې په بکس کې وه دشلګی او چنګك سر دراوا خیستل . مچین زیری دباد وان ډانګه او بخپله بادوان په اوږو وا چول .

هلك وویل: « چای ته دې زړه کیږی ؟ »

« ود ریږه چه سامان په ما کو کښی خو ندی کړو بیا به سره ګورو . »
ورو سته دواړه دبحر په غاړه په چوترې کیناستل او چای بی وڅکله . په دې چوترې به سهار دوخته نورو کب نیوونکو هم خپل سبانارې کاوه .

هلك پوښتنه و کړه : « با با شپه دې څنګه وه ؟ » دزاړه سړی له څیرې دخوب نښې ښکا ر یدې .

وبې ویل: « ډیر ښه خوب می و کړ . نن ځان را ته تکړه ښکاری » .

هلك وویل: « زه هم په ځان کښی هیڅ ستومانی نه وینم . ودر یږه چه خپل او ستا ساردین راوړم او دچنګك شومه هم راوړم . ابا می تل خپل سامان پخپله وړی را وړی او هیڅوك نه پر یږ دی چه ور سره مرسته و کړ ی . »

زاړه سړی وویل: « زه او ستاپلار به کړو کښی یوشان نه یو . ته لا پنځه کلن وې چه ما در بانده دما کو اسباب په شا کول . »

هلك وو ل: « بو هیږم . زه ژر بیرته راځم . ته تر هغو یوه بله پیاله چای هم درو څکه .

ACKU

هلك پښي ابلا دهغي خوني خواته روان شو چه د كب نيولو شومه په كښتي ايښي وه
زاړه سړي له خپلي پيالي سوكه سوكه غړپونه كول .
دده دنن ورځي همداخوراك و . د ډيرې مودې را هيسي هيڅ خوراك خوند
نه وركاوه نو ځانه سره يي په ماكو كښتي ډوډي نه وړه . يو بوتل اوبه يي دماكو
په اينديي كي اړلي او درسته ورځ يي په هماغي تيروله .
هلك بيرته راغي . ساردين او شومه يي په يوه زاړه اخبار كښي پيچلي وه .
دواړه دماكو خواته روان شول . دماكو يي په دوو كسو جګ كړاو ابوته يي
ور وښو ياوه .
هلك وو يل: « په مخه دي ښه بوډا . »
زاړه سړي وو يل: « تا سره ».
چپي يي دماكو په دواړو اړخو وتړلي او په دواړو لاسو يي د چپو لاستي
شاته راكاږل ماكو په اوبوور ګډ شو . ورووروله غاړي ليرې كيده . لا تياره وه .
دنورو ماكوګانو ديو ن غږ يي په اوبو كښي اوريده . سپوږمۍ دغرو شاته پناشوه .
په ماكوګانو كښي به كله كله خبرې هم كيدې خو ډير وخت به يي د چپو
له غږه پرته بل غږ نه په كښي اوريدل كيده . چه سهر دوخته به كب نيوونكي په خپلو
ماكوګانو كي سيند ته لاړو شول هر يو به په يوه لوري روان شو او په ټول
سيند به خواره شول . هريوه به لادوخته د كب نيولو ځاي د ځان دپاره په
نښه كړي و .
زاړه سړي د ځانه سره ټكيرلي وه چه داوارې به ليرې ځي نو همدغسي مخامخ
له ساحله ليري كيده . دبحر د اوبو تانده وږمه يي په سږبږمو لګيده . داوبو په هغه
ځاي كي چه ژوره ځا وميده د كم اصلو لو خوپانې ښكاريدې . ژوره ځا هغه ځاي و
چه دسيند تر نورو برخو به رښتيا هم ژور و او هر راز كبان پكښي ټوليدل . رنګ په
رنګ واړه كبان به د شپي داوبو سرته راختل او نورو لارو و غټو كبانو به
ورباندې ميلې كولې.

لا تیاره وه خودی بوهېده چه سهار نژدې دی . د الوتونکو کبانو غېږ چه له او بو نه بې پاس خېژ کړاو بېرته به په شړپهار او بوته و غور ځېدل زاړه سړی اوراېده . د الوتونکی کبان په ده ډېر ګران وو ځکه چه دده د سیند ملګری وو د او بو په تو تکیو یې زړه سوزېده . فکر یې کاوه داوړې مرغۍ تره و نبز ډېری سرګردانۍ دی هغه چه په ځان قوی دی لا ښه دی . ددی نورو ژوند زمونږ تر ژونده ډېر تریخ دی . نه پوهېږم چه دا ګلالۍ مرغۍ په دې خونړیو ځپو کښې څه کوی بحر دې . وخت مهربان او ښکلی وی خو کله کله بیا ناڅاپه په قارشی . دا مرغۍ چه خپلې وړې مشو کې په او بومنډې او بیاجګېږی د سمندر قارته ندی جوړې .

زاړه سړی همېشه ځانته سره سیند لا مار باله . دلا مارنوم هسپانویان هغه وخت سیند ته ورکوی چه ډېر ور باندی ګران وی .

دسیند مینان ډېر وخت سیند په بدو بدو نومو یادوی خود اخبری داسې و یلې کېږی لکه چه سړی یې ښځې ته وایی . هغه ځلمی کب نیوونکو چه په موټری ماکوګانو کښې سپږدل هغوی سیند ته ایلمار ویل . ایلمار یې مذکر دی . دوی ته سیند لکه رقیب او دښمن داسې ښکارېده او کله به چه په قارشو نو، بیا بی ملامتاوه خو زوړ سړی داسې نه و . ده ته سیند لکه یوه ګلالۍ پېغله داسې ښکارېده او کله چه به په قار هم شوه نه به بې ملامتوله . ددې ګناه نه وه . سپوږمۍ په دې هم هغه اغېزه کوله چه په پېغلې یې کوی .

وروورو یې چپه وهله . چپه وهل ورته اسانه وه ځکه اوس د سمندر په مخ ګونځی نه وې او دده د ریمه برخه کار پخپله د اوبو جریان کاوه . چه سپېده و چاودې نوده خپل ماکو د سیند یوې لیری سیمې ته رسولی و . فکر یې کاوه درسته هفته می په دغو ځاګانو کښې لټون وکړاو هیڅ می بیانه موندل . نن به دبانیټا او البا کور په ډلی ورګډشم ګوندی کوم لوی کب هلته په ګیر راشی .

رڼا لا سهار خوره نه وه چه ده خپل چنګکونه را وایستل او ماکو یې په جریان کښې لاهو کړ . یو چنګک شلو ...توازی په او بو کښې ننووت بل پنځه او یا ،

ACKU

دریم او څلورم چنګک په نیلي او یو کښې ترسل او یوسل و شل وازو ډوب شو ،

دمږو په سر کښې چنګکونه و او هر چنګک په یوه وړه مساله یې کب یو ډی ګلک تړل شوی و . د چنګک په څو که او ټو لو ښا خو کښې شومه نښلول شوی وه د ټولا د ی چنګک هیڅ داسی برخه داسی نه وه پاتې چه به یو لوی کب ور نه بې پر واتیر شوی وای .

هلك دوه واړه کبان هم ور کړی و چه لکه شاول دمږو پوری ځوړند وو . دغاوروواړو چنګکو مزی هر یو لکه خپچه ګوته دو مره پرېړو . دمزو په پاس سر کښې دوه ښنه بخون ار ګی تړلی وو . چه دمزی حر کت یې ښووده . که کوم کب په چنګک کښې نښتی وای مزی به په او بو کښې ډوبیده او شین ار ګی به هم ور سره ډوب شو او که نه نو د او بو په مخ به پروت و . د هر مزی سره څلو یښت وازی دمزی بل ار هم نښتی و چه ګوا کې دا ړتیا په وخت کښې به یوه کب ته دری سوه وازی مزی ور غزیدی شو .

زاړه سړی ددرو مزو ښنو ار ګیو ته کتل چه کله به ښور یږی او ما کوبی سو که سو که چلاوه هر یو مزی یې په ډیر مهارت نیغ او په خپل خپل ځای ساته . او س نو بیخی رڼاوه او دلمر درا ختلو وخت و .

سپین څك لمر د بحر له مینځه را وخوت او زاړه سړی نور ما کو ګان ولیدل چه ټول تر ده ساحل ته نژدی و . دلمر رڼا خوره شوه او پلوشی یې په سیند ولګیدی او له سینده بیرته د زاړه سړی په سترګو ور لګیدې .

زاړه سړی سترګی له سینده واړولی او هماغسی بې ورو ورو چپه وهله . هر یو مزی نیغ په تورو اوبو ننو تی و . زاړه سړی د هر کب نیوونکی نه خپل مزی ښه نیغ ساتل هر مزی یې دو مره ډوب کړی و چه د تورو اوبو په هره برخه کښې یو چنګک موجود و . نو رو کب نیوونکو به مزی د جریان سره خوشي کول ځینی کله به چنګک شپیته وازی ډوب او کب نیوونکی به دسلو وازو خیال ورباندی کاوه .

زاړه سړی فکر کاوه زه خو مزی بیخی په ځای برابر ساتم تش دومره دی چه بد مرغه یم .

ACKU

خو شوک څه بوه هېږي ګوندې نن ...ره ورځ نوې ورځ ده. په دې کښې
هیڅ شك نشته چه طالع ښه شي دی خو زه د مهارت پر خوايم. بیا نو چه قسمت در ته
برابره کړي ته به ور ته تیار یې.

اوس لمر دوه نیزې جګ واوده په ستر ګو دومره بانه لګیده. زاړه سړي درې
نور ما کو ګان ولیدل چه درې واړه تر ده ساحل ته نږدې وو.

فکر یې وکړ درست عمر مې ستر ګې لمر وهلي دي خو تر اوسه مې دم نظیر په ځای دی.

ماز یګر ی لمر ته سیخ کښتی شم او په ستر ګو کښې مې تور
نه راګرځي. لمر خو ماز یګر هم ډېر روښ دی خو د سهار لمر ستر ګې ژوبلوي.

په همدې وخت کښې یې تورو زرې مارغه ته پام شو چه ده د سر د پاسه یې ورو ورو
دوره وهله. یو وارې وزرو نه ټول کړل او ښکته را شیله شو خو بیا بیر ته په دوره
لګیا شو.

زاړه سړي په جګ غږ وویل: «مارغه کوم شی لیدلی دی. هسې خوشې دورې نه وهي»
ورو ورو یې ما کو هغه ځای ته په چوورو وست چه مارغه دوره کوله. زغر ده ئې
نه کاوه او خپل مزي یې په او بو کښې نیغ نیاتل خو ما کو یې څه قدرې د مارغه دپاره
چټك کړ.

مارغه نور هم جګ شو او دوره یې کوله. خو بیا یې سمدلاسه کوزه غوټه وکړه
او زاړه سړي په همدې وخت کښې یو الوتونکی کب ولید چه له اوبو دباندې
خیز کړ او بیرته او بو ته ستون شو.

زاړه سړي د ځانه سره وویل: «د الفین، غټ د الفین».

چپه یې په ما کو کښې کینوده او یو وړو کی چنګك یې واخست او یو وړ کب ئې
په کښې چخ کړ. د چنګك د مزي لښته یې د ما کو په یوې کړ ي پو رې وتړ له.

بیر ته یې چپه وا خیستله او په خپل ځای کښینا ست. ورور ور یې چپه وهله او
پاس یې تورو زرې مارغه ته کتل.

مارغه بیا د غوټې د پاره خپل اوږده وزرو نه ټول کړل او بیا یې نو او بو ته نږدې

ACKU

Aurang Zeb '
Subject specialist
GHSS NO1 mardan



دالوتونکي کب پسې ګېږه وزه‌لاړو کړه . زاړه سړی‌داو بوهغه پرسپېدلی ځای لیده چه‌ترلاندې يې‌دډ الفين ډلې‌له مار غه تېښته کوله .

چه‌مارغه به‌په او بوحمله و کړه کبان به تراو بو لاندې شول . زاړه سړ ی فکر و کړچه‌دډالفين ډله‌لويه ده‌اودمارغه غوټه‌نه برابرېږي .الوتو نکې کبا ن ښا يسته غټ‌هم دي اودمارغه زوروربانديې نه‌رسيږي .

خوواري يې الو تو نکي کبان و ليدل چه‌له اوبو يې پاس خيز کړ خو د مار غه حملې پرې نا کامه شوې . ده‌فکر کاوه لکه چه‌ډله له ماډېره لېر ی شوه . ډېره په زغرد روانه‌ده . زه‌به چپې وهم ګوندې خپل‌لوی کب لاس‌ته راوړلم . زما لوی کب خو بايد دلته چېرته و ی .

لیری‌دور يځو لړی ښکاريدی او ساحل لکه‌يوه شنه ليکه داسې ښکار يده او ترشايې خړ غرو نه ليدل کيدل . دبحراو به‌توري‌شنی بر يښېدې‌اودډ يرتو ر والي نه‌یې دچنيارنګ‌نيولی‌و. داو بولاندې‌دا بوخزنده‌سره ښکاريدل اود لمر رنګينو وړانګو په ا و بو کښې عجيب ر نګو نه جو ړ کړ ی وو .

دچنګك مزی‌ته‌يې کتل چه‌سم نيغ همداسې کوز په‌تورواوبو کښې له‌نظره‌پټ‌شوی‌و . زوړ سړی داو بود خزند و په‌ليدلو خوشا له‌شوځکه چه‌د کب نښه‌وه. دلمر عجيبو او رنګينووړانګو اودساحل‌په‌سرنر يوور يځو زاړه سړی ته‌د ښه موسم زېر ی ور کړ اوس نو‌مارغه ورك شوی و اود سيند په مخ چپ له ز يړ و بو ټو ا و چنيار نګه ځيلدونکو وړو کبا نوچه‌دما کو ترڅنګه‌يې داوبوپه سر لار کوله. بل هيڅ شی به ستر ګو نه‌ليدګده.داواړه کبان به کله کله‌په‌اړخ‌واو ښتل او بيا به‌يې بيرته ځانو نه داو بو په‌سرسم کړل‌اوپه خو شالۍ به‌يې په‌لا مبو پيل‌و کړ. بانجا نی نر ی ر يښک‌ۍ بی بو ګز شاته‌لکه‌ځنې داوبو په‌سر دځان پسې‌را کاږلی او په خو لی يې د او بو په سر رنګينې پو ګڼۍ جوړولې .

زاړه سړی په‌موسکاور ته‌و کتل‌ويې‌ويل !«اې کاسيرې!».

زوړسړی د چپوسره‌وړاندې‌وروسته زنيګده .واړه کبان يې‌دما کو اړخ‌ته‌ليد ل‌چه

رنګونه یې چینیا اود خزندو دنړیور ریښکیو په مینځ اودېږو کښېو تر سیور و لاندې ئې
په تندې لا مبو کوله.

دېوړو کبانو ددې ریښکیو د زهر پروانه کوله خو دا زهر چه د ماهی له خولو توییدل
په سړی بد لګېدل. ځله به چه زاړه سړی کوم کب له چنګک خلاصاوه اود چنګک
پورې به دا زهر لږ ونکی کب هم نښتی وو ده لاس به پرې زخمی زخمی شو. دې زهرو به
داسې سوی کاوه لکه زهر لړ ونکی یا نېچه دسړې په ځان ولګېږي. په سړي
به لکه مترو که داسې لګېدل. دا کلاله پو کښې لکه سړې زړ غوني داسې ښکار ېدې.
خو په ګړ د سیند کښې تر دغو ریښکیو لړ ونکو ژوو غولو نکې شی بل نه وا وچه
دسیند کښپا نو به خوړلدې به په زړه کښې ورباندې خوشاله شو. کښپان به دمخې له خوا
په لا مبوور پسې را غلل اودریښکیو سره به یې خولې ته واچول. زوړ سړی به چه کښپ
ددغو ژوو په خوراك لګیا ولید ډیر به خوشا له شو. ډیر کله به چه طوفانونو د ساحل غاړې ته
وغورځول زاړه سړی به خپلې زړې پوندې ورباندې کیښو دې اود چاودلو پړف به یې
په خوشالۍ اوریده. د سیند شنه کښپان اوپلن کښپان هم دده خوښ و. دا کښپان ډېر
ګړندي وو او په بازار کښې په جګه بیه خرڅیدل. هغه بل ستر زیړ رنګی کښپ هم دده خوښ و.
د کښپ دښځې او نرمینه او ددوی مستی او په پټو ستر ګو لامبو یې ډیره خوښه وه.

زاړه سړی ډیر عمرد کښپا نو ښکار کړی وا وزړه یې ور باندې خوږیده. داسې لوی
کښپان هم ده نیولی و چه دسر کاسه یې دده دما کوهومره لویه وه او پخپله سل منه درو ندو.
خو به د غو یې هم زړه نه خوږیده د ډیرو کب نیو نکوزړه په کښپ سوزی. ځکه چه
د کښپ زړه ور وسته تر قصابی لو د پوسته کولو نه هم ترډ یره وخته نه د ر پیږی او
هماغسې ټوپو نه وهی. خو زاړه سړی فکر کاوه چه زه هم د همدغو کښپانو غوندې زړه
لرم او زما لاس او پښې هم د دوی غوندې ګونځې دي.

څه شیبه وروسته یې بو څو دانې هګۍ وخوړلې. ده دجوزا او میزان په میاشتو کښې ان تر
قوسه پورې هګۍ خوړلې. دادې پاره چه دې دیوه رښتیاني لوی کب د پاره تکړه وساتی.
ده به هره ورځ یوه پیا له د نهنګ د ځګر غوړی هم څښل. دا غوړی په هغه لوی پیپ کښې و

ACKU

چه دده د کوډ ی په ګوټ ګښي ایښی و دا پیپ پخوا دده کب نیولو داسباب دپاره په کار یده. اوس په ګښي د نهنګ د ځګر غوړي وا و هر کب نیوونکي ته اجازه وه چه راشي او یوه پیاله تري وڅښي. د ډیرو کب نیوونکو د اغوړی نه وخوښ. خوند یي چندیانی ښه نه و. خو کب نیوونکي پوهیدل چه دا غوړ د سړو او بریښ دپاره ښه وا و ځینو به ویل چه دسترګو دپاره هم ښه دی.

زاړه سړي پاس د کتل او مارغه یي ولید چه بیایي دوری وهلې.

په جګ غبز یي وویل: «کب یي پیدا کړی دی.» خو هیڅ الوتونکي کب یي تر سترګو نشو. څاریي کاوه. په همدې وخت ګښي یو وړوکو نانومی ماهي یي ولید چه هوا ته یي خیز کړ او بیرته سر په څپړی په او بو ننووت. دلمر پلوشي یي په سر و پرقیدې. بل ځو ناجګ شو، بل، بل او همداسې ډیر له او بو نه هرې خوا ته الوتل او بیرته سر په څپړ ی په او بو ته ستنیدل. اوس نو دځو ناړ له د چنګک له شومې تاویده.

زاړه سړي فکر کاوه که داسې وروځي نو به ورسیږم. دځو ناړ له د مارغه له ویرې په او بو ننوتله.

زاړه سړي وویل «مارغه مي لوی مرستیال دې»

په همدې وخت ګښي یې دپښو لاندې مزی شخ شو. چپې یې له لاسه وغورځولی او مزی یې په لاس ګښي ونیو. دځو نادرو ند والي مزي یي ریبز داوه.

مزې یې پاس راښکه. دمزي دریبز دیداسره یي مزی نور هم پاس کش کړ.

دماهي شنه شا داو بو په سر ښکاره شوه. اړخونه یي طلايي و. ماهي یي دماکو له څنګه ې جګ کړاو په غولي یي وا چاوه. دماکو په غولي ماهي دلمر دوړانګو لاندې لګید تربوله. زاړه سړي په لغته و واهه چه مړ شي او دماکو په یوه ګوټ ګښي یي سیوري ته وغورځاوه. لار پيژ دیده.

زاړه سړي وویل «البا کور. چنګک ته به ښه شومه تري جوړه شي. نیم من دورند دی.»

دزاړه سړي په یادنه وچه کوم وخت ده دځانه سره غبز پدل زده کړي و. چه یوائي به وو پدلي به یي ویلې او دشپې به یې هم دځانه سره سندرې بللې. داسې ښکاریده لکه چه

ACKU

ده هغه وخت د ځان سره په خبرو پیل کړی وی چه هلك تړی لاړ. خو دده سم په یاد نه و. دی او هلك چه به په ماکو کښتی یو ځای و د ضرورت په وخت کښتی به سره غبږیدل او هغه وخت به غبږیدل چه ماکو به په طوفانی اوبو کښتی ګیر شو. کب نیوونکو دا د کب نیوونکی ښه صفت باله چه په ماکو کښتی ونه ږغیبږی. د زاړه سړی دا خوی خوښ و او د هغې احترام یی کاوه. خو اوس یی په زوره خبرې ځکه کولی چه ده ته نږدی بل څوك نه و چه دده په خبرو ځورېدلی وای.

په جګ غبږ یی وویل: «که نور خلك زما د ځانه سره خبری واوری وایی به چه بوډا لیونی شوی دی.»

بیا یی وویل: «خو زه چه زه لیونی نه یم د خلکو د خبرو څه پروا کوم. شتمن خلك خو په خپلو ماکو کانو کښتی راډیو لری چه ورته ږغیبږی او د بیسبال د لوبی خبرو نه ورته راوړی».

فکر یی وکړ اوس د بیسبال د خبرو وخت نه دی. اوس یوازی د یوه شی وخت دی. هغه شی چه زه ورته خدای پیدا کړی یم. کوم لوی کب به هغی ډلی ته نږدې چیرته وی.

ماخو یوازی یو وړوکی البا کور تری ونیو. نن هرشی د شمال خواته ځی، داولی؟ البته دا به د ټولو عادت وی چه دور ځی په دې وخت هغه پلوته ځی یا به د هوا د بدلون نښه وی. نه پوهېږم.

اوس یی د ساحل شنه لیکه نه لیدله او یوازی یی د لیرو غرو څوکی لیدلی شوې چه واوری ور باندی پرتی وی. د سپینو وریځو کړی د غره د څوکی نه چاپیر ولاړې وی. کوز سیند تك تور و او په ځینو برخو کی یی رڼا ځلیده. د سیند دوړو خزندو رنګونه اوس د لمر د پلوشو لاندی بیخی سپین ښکاریدل.

یوازی د اوبو په ژورو کی د رڼا په اثر رنګین بخری بریښیدل. د چنګك مزی هم داسی نیغ په ژورو اوبو کښتی ننوتلی وو.

ټوناګان اوس د اوبو نه د باندی نه ښکاریدل. کب نیوونکو به هر راز ټوناته ټونا ویل او یوازی د خرڅلا په وخت به یی د راز راز ټوناګانو ترمینځ توپیر کاوه.

ACKU

لمر ورو ورو تو دیده . تاو یې د زاړه سړي په ورمېږ ولګېد. په شا یې د کمیسه لاندې د خولو دانې ورغښتې . فکر یې کاوه ګولۍ شم چه کرار پریوزم او ماکو پریږدم چه پخپله لاړ و وهي . د ښي په ګوته مزي و تړم چه که کب په کښي ګیرشو او ویښ مې کړي . خو نن پښخه اتیاومه ورځ ده او باید ښه پام و ساتم .

په همدې وخت کښي چه ده خپل مزو ته کتل وې لیدل چه د یوه مزي شین لرګی په اوبو کښي ډوب شو . چټې یې په کراره په ماکو کښي کښېښودې او مزي یې د غټې او شهادت ګوتې ترمینځ ونیو . وې ویل « هو ، هو » خولاس یې درونه نشو . مزي ئې همدا سې سست په ښي لاس کښي یوه شیبه ونیو . مزي بیا لږ ور بږدېد خو دومره درونه نه و . دې پوهېده چه څه شي دي .
سل و ازي کوز یوه مار لین هغه واړه کبان خوړل چه په څنګ کښي پېیل شوي وو .

زاړه سړي د مزي سر له ماکو خلاص کړ او د دوو ګوتو په مینځ کښي یې داسې سست ونیو چه که مار لین یې کش کړي دی مزي ور غځوي .

زاړه سړي فکر کاوه چه دا دومره تا را کاږي نو ضرور به لوی کب دی.

کبه! خوره خوره وکوره چه څومره تازه کبان مې در ته پېیلي دي . ان شپږ سوه فوټه ژور مې در ته په تورو اوبو کښي غوښه ایښې ده . کبه بله دوره ووهه او وې خوره . مزي ورو کش شو او بیا یې په زوره ټکان وخوړ . کب به لګیا وي د سار دین سر به شکوي . بیا نو مزي په کرار شو .

زاړه سړي په جګ غږ وویل: « راځه بیا دوره ووهه و همه سار دین خوازه ندي که ښکه ؟ خوره یې کنه ولې شرمېږې؟ ».

مزي یې د دواړو ګوتو ترمینځ نیولی و او کوز یې کتل . نورو مزو ته یې هم کتل چه هغو ته ور غلی نه وي . مزي بیا نرغوندې ندي والړ زید

زاړه سړي وویل: « اخر به یې وخوري خدای دې وکي چه و یې خوري . »
خو وې نه خوړ او مزي بیرته غلی شو . د زاړه سړي زړه تش پاتې شو .
وې ویل: « تلی نشي. اوس بیرته را ګرځي. کېږي چه دا کب به پخوا هم چیرته ګیرشوی دی

او اوس به له چنګکه ډار ږېږي.» په همدې وخت کښې مزی بیا ابزغونډي
ورېږ دید او د زاړه سړي تېښته خلاصه شوه. ویې ویل:« ویل مې چه بېرته
راګرځي اوس به یې وخوري.»

زوړ سړی د مزي دې وړو وړو ریږ دیدا ته خوشاله و. په همدې کښې مزی
بیشانه زور ور تېګان وخوړ. د کب درو ندوالی یې په مزي کښې حس کړ.
مزی یې وړو وړو خوشي کړ. مزی په تندۍ کوز شو بیده. کوز، کوز، تر
هغې چه د مزي یوه کړۍ خلاصه شوه. زاړه سړي لا هم د کب درو ندوالی
حس کاوه. ویې ویل:« عجیبه کب! چنګک یې په خولې کښې دی او دی لا روان دی».
فکر یې وکړ اوس به بېرته راوګرځي او چنګک به تېر کړي. خو دا یې په
په زوره و نه ویل ځکه پوهېده چه ښه شي چه سړی یاد کړي هغه بیا نه
کېږي. پوهېده چه کب خورا لوی دی او پوهېده چه شومه یې برابر په خولې
کښې نیولې په تورو او بو کښې روان دی. په همدې وخت کښې مزی ودرېد
او دې پوه شو چه کب په ځای ولاړ دی. وروسته یې لاس بیا درو ند شو او مزی یې
ورسست کړ. یو وار یې د یوې شېبې دپاره مزی ټینګ ونیو خو د کب زور ډېر و
او بیا یې مزی ور خوشي کړ. ویې ویل:« چنګک یې خولې کښې دی پرېږده
چه ښه یې وخوري.»

د ښي لاس د ګوتو له مېنځه یې مزی کوز شو بیده. کیڼ لاس یې تېر کړ او
د ذخیرې مزي سرونه یې یو بل پسې وتړل. اوس نو تیار و. درې کړۍ مزی یې
تیار لرل. د هر مزي اوږدوالی څلوېښت وازې و.

ویې ویل:« لږ یې نور هم وخوره. ښه یې ښه تېر کړه.»

فکر یې وکړ تر هغې یې د ر لي ننه باسه چه د چنګک څوکه دې په زړه ننوځي
او مړ دې کړي. بیا نو په اسانه پاس را وخېژه چه شلګي د ر کي ننه باسم ښه تیار یې؟
موړ شوی یې؟»

ویې ویل:« نور او وخه» او په دواړو لاسو یې مزی پاس کش کړ. یو ګز جګ شو

PROPERTY OF ACKU 32321

بیا یې په دواړو لاسو کش کړ. داوا ریې په ټول زور کش کړ خو هیڅ ونشو
کب په بیخي اسانۍ بیرته کوز لاړ اویوه لویښت هم را جګ نشو.

دزاړه سړي مزې ډیر قوي وځکه چه دلویو کبانودپاره او دلښوی و. دمزې
یوسرېې پهاوزې واړهاوداوزوپه زورېې مزې کش کړ. مزې دومره شخ شو چه داوبو
څاڅکي تري والوتل: مزې یې پهاوږو کلک نیولی و اوشاته یې ځان کوږ کړ. کب
په شیبو شیبو روان واوماکوېې دځان پسې راښکه. هغو نورو چنګکونو کښې لاتر
اوسه ټو ناکان ښکاریدل. زاړه سړي وویل: «کاشکې هلک راسره وای. پخوابه
ماکب راښکه اوس کب ما راکاږي. مزې نورهم ټینګولی شم خوډاریږم چه کب
به یې وشلوي. زه یې باید دومره شخ ونیسم چه که ډیر زور اچوه نور تار
ورخوشې کړم. ښه دي چه کب کوزندې روان چه نورمزې و نه غواړي. اوس خوچه دي
هرچیرې ځي زه ورسره ځم. ښه نو که دي وغواړي کوز په اوبو کښې نور هم ډوب شي
څنګه به کړم نه پوهیږم. ښه نو یوچم خوبه ورسره و کړم. ډیرشیانـدي چه زما دلاسه
پوره دي. مزې یې پهاوږو نیولی واو کوز یې په اوبو کښې مزې ته کتل. ماکو په
شیبو شیبو د شمال غرب خوا ته ښوییده.

زاړه سړي فکرو کړ دا کب ځان وژنی. تر قیامته خو به همدا سی چنګک
په خوله روان نه وي:

خو ډیر وروسته هم کب په شیبو داوبو لاندې یون کاوه اوماکوېې دځان پسې
راښکه. زاړه سړي هماغسې مزې په اوږو نیولی و. ویې ویل «دا څنګه کب دی
ان غرمه وه چه په چنګک کښې ونښت اولاتر اوسه مې په سترګو نه دی لیدلی».

د کب له نښتې پخوا یې خپله مزرینه خولۍ په سر کښېکښې ایښې وه او اوس یې
وچویلی دخولۍ په څنډې سو لیدلی واوسوی یې کاوه. تبږی هم و. په کراره
په ګونډو وشو چه مزې و نه ښوریږي. یولاس یې دما کولیندۍ ته تیر کړ اوداوبوتل ئې
وا خیست. سر یې پرانیست اوڅو غوړپه یې تري و کړه. بیانودبادوان په ټوټې
کښېناست او لیندۍ ته یې تکیه و کړه. غوښتل یې چه نور فکرونه کړي اوځان
تکړه وساتي.

وروستهیی شاته و کتل. د ساحل نښه هم نه وه. فکریې وکړ، فرق نه کوي زه همیشه د هوا نا د ښار په رڼا خپله لاره موندلې شم. دوه ساعته نور لمر پریواته پاتې دي. ګوندې پخوا تر هغې کښې راووځي. که نه نو د سپوږمۍ د راختو سره خو به راووځي او که بیا هم راونه ووت نو سباته په لمرخریك به راووځي. زه په ځان کښې هیڅ ستړیانه وینم او ښه تکړه یم. چنګك د کښې په خوله کښې دی زما په خولې کښې خوخوندي. خورښتیا داعجیبه کښې دی چه داسې کشکول کوي. خوله به یې د چنګك په سیم کلکه تړلې وي. کاشکې مې لیدلای شوای. کاشکې مې لږ تر لږه یو واري لیدلی شوای چه د څه بلا سره مې سر دی.

زوړ سړی د ستوروله مخې پوهیده چه کښې د رسته شپه په هماغه یوه طرف روان و له لمر پریواته نه وروسته هوا سړه شوې وه او د زاړه سړي په ډډه او و چولینګیو خولې وچې شوې وې او سړي لګېدې.

په ورځې کښې یې د چنګك د شومې جوال دوچېد و د پاره د ماکو په دیوال لمر ته غوړلې و او اوس یې د غاړې نه چاپیر و تاړه. یوه پیڅکه یې د مزي لاندې په ډډه وغوړوله. مزی جوال ته تکیه شوا و دی یې لږ هوسا کړ.

فکریې وکړ تر څو چه دا لوبه روانه وي زما د لاسه هم هیڅ نه کېږي او د کب د لاسه هم.

و د ریډ او د ما کوله څنډې یې په سینه کښې متیاز پو کړی. ستوروته یې و کتل او د ما کود تلو خوا یې ځان ته ښکاره کړه. مزي لکه د شپې او ر بلکې دده له اوږو نیغ او بوته کوز شوی و. د ما کو یون اوس ورو شوی و او د هوانا رڼا چند یانې قوي نه ښکار یده او له دې نه دې پوه شو چه د ختیځ خوا ته روان دی. فکر یې وکړ که د هوا نا د رڼا څخه لیرې کېږو نو د ختیځ خواته ځو ځکه که د کب د تلو لار په پخوانی خوا وای څو ساعته نور موهم د هوا نا ر ڼا لید له. فکر یې وکړ نو هېږم چه د لو یو ستیمو نو تر مینځ به د بېسبال لو بې څه نتیجه ور کړی. عجیب خو ند به کوي چه سړی په ما کو کښې راډیو ولري. وروسته یې

ACKU

فکر وکړ زړه سړیه دابل فکر وکړه دهغه‌شي فکر کوه چه ډیر سره مخامخ یې،
کم عقلي مه کوه.

په جنګ غیږ یې ووهله کاشکي هلك راسره وای چه اوس یې را سره مرسته
کړې وای اودا صحنه یې لیدلې وای.»

فکر یې وکړه زړه شت کښې دې هیڅوك یوازې پاتې نشي. خوشحاله دې اوس خوزه
یوازې پاتې یم باید. هیر نکړم چه هغه‌ته نامځکې تردې چه خوشاشي وخوړم پام کوه
زړه سړیه چه که اشتها لري که نلري باید سبا ته دا ټول او خوړي نچه قوي
پاتې شي په یاد اره.

دشپې دوه چونګاښان دغا کوشارخوا ته راغلل. زاړه سړي یې دلاسبوا و شکیلي
غبږو اوریدده لهشکیلي نراوښځه سره ژوندل. ویې ویل «چونګاښان ښه ژوی دي.
یو بل سره مستي او ټوکې ټکالې کوي‌او یوپه بل مینوي. داهم لکه‌الوتونکي
کبان زمونږ زوروونکي دي.»
بیابې په‌هغه اوی کب زړه وخوږ ید چه‌ده کرزه چنګك کښې ګیر کړی و.
فکر یې وکړ عجیب کب دی. خدا زده چه د څو کلو به وي.
په‌درست عمر کې‌مې‌داسي‌قوي کب نه‌دی‌لیدلی. له‌ډیره وښیاری‌ره‌به‌یې ځان ښایي نیولی
وي که‌نه په‌ډیر وتر پکو او ځغلابه‌یې کور راوران کړی و. ښایي چه‌پخوا به هم څو واري
ګیر شوی وي‌او پوهیږي به‌چه دخلاصي لارهمداده. ښه‌دي چه‌په‌دي نه‌پوهیږي چه‌دیکي
یوه سړی سره‌یې سر دی‌اوهغه هم‌ بوډا خو عجیب اوی کب دی. او که خدای کول چه
غوښه‌یې ښه وي نو به په جنګې‌یې په بازار کښې خرڅ شي. دچنګك غوښه‌یې لکه
نر کب داسي‌وخوړه‌او کشکول یې هم دنر کبه دی د ډار هیڅ نښه په کښې نشته.
نه‌پوهیږم چه په‌دي ځلیتوب کښې یې کوم چل دی او که نه دی هم ماغونډي
حیران دی.

دده په‌یادوچه‌یووخت یې دمار لین‌له‌یوي جوړي څخه ښځه‌مار ایله‌نیولی وه. نرماهي
همیشه په خوراك کښې ښځه له‌ځانه‌ړومبي کوي. ښځه مار لینه‌په چنګك کې

په تر یکو او تو یو نو وه. او له ډیرې وار خطایې ځان تری ورك شوی و. نرمارلین تر اخره ورسره و او دوري یې تری وهلی. چه زاړه سړی ښځه داو بو سر ته راښکله نرهم ور سره پاس راغی. نر دومره خپلی جوړی ته نږدی و چه زوړ سړی ویریده چه پالکۍ به مزی پرې کړی. دمارلین لکۍ لکه لور داسی تیره او هماغسی دلاره په شان کبږه وی. کوم وخت چه زاړه سړی ښځه مارلینه ترهغی په سروو هله چه دبو ستکی ر نګ یی لکه دهینداری د شا داسی زیږ شو او بیایی دهلك په مرستی ما کو ته جګ کړ نر مارلین لا هم داو بو په سرو. وروسته چه زاړه سړی د چنګك مزی پا کاوه او نوره شومه یی په چنګك کی پییله نرمارلین د او بو له سره او چت هوا ته خیز کړ چه خپله ماګرې په ما کو کښی وګوري او بیا نو په او بو کی ډوب شو. داړ خو کلالۍ رنګینی ښې یې زاړه سړی ولیدی. زاړه سړی اوس فکر کاوه دازماد ژوند یوه ډیره غمجنه صحنه وه. هلك هم ورته خپه و او د واړو له ما لینې بخنبست و غوښت اوژر موقصابی کړه.

زاړه سړی په جګ غږ وویل: «کاشکی هلك را سره وای.» او ذلیمندې دړوته یی تکیه وکړه. دلوی کب دروند والی یی په اوږ و حس کړ. فکر یی وکړ دازما ګناه ده چه کب ځان په بند کی ګیروینی. ده غوښتل چه په ژورو تورو او بو کښی دتو لو تلکو نو او چالبازی څخه لیری وګرځی. ما غو ښتل چه دی له هغو ژورو لیرو ځایو څخه راو باسم. او س دواړه سره یو ځای یو. نه زه مرستیال لرم، نه دی. زما ګناه به داوی چه ولی د کب نیولو کسب کوم. خو څه چاره؟ زه د همدې دپاره زیږ یدلی یم. باید هیر ئې نه کړم چه ر نیا شی نو تو ناو خورم.

له سپید وچاو دو څه پخوا دده شاته دها نورو مزو څخه یوو خوزید. یوه شو چه کوم پال کب په بل چنګك کښی ګیر شوی دی. په تیاری کی یی چاقو له تیکی وایست. د کب تول زور یی په کینې اوږې واچاوه او لاس یی تیر کړ دهابل مزې یی په چاقو پرې کړ. بیایی د بل چنګك مزې هم پرې کړ او ددواړو کړیو

ACKU

مزو سرونه يې سره غوټه کړل . ښځه يې دمزو په کړ يو کېښوده او غوټه يې نوره هم کلکه کړه . اوس يې نو شپږ کړۍ ذخيره مزي لرل . ځکه چه په هر چنګک کښې دوه کړۍ ذخيره وار دوه کړۍ به هغه چنګک کښې و چه کب به کښې ګيرو . دا ټول سره غوټه شوي وو .

فکر يې وکړ چه رڼا شي د هغه بل چنګک ځاو يښت وازي مزي به هم برې کړم . دوه سوه وازي مزي او چنګکونه خورانه په سيند کښې پاتې شو . خير نور به بيا واخلم خو دا کب بيا نشم موندلی . نه پوهيږم دا بل کب چه يوه شيبه پخوا ګير شوی و څنګه کب به و . مارلين به و يا به شارك . خو ما سره دومره وخت نشته چه دې مې ازمېيلی وای . خوښتال مې چه ژر ځان ترې خلاص کړم چه اړه دې بانه مې پاتې نه کړي .

په جګ غږ يې وويل « کاشکي هلك را سره وای . »

فکر يې وکړ هلك خو نشته او ګوري چه يواځې يې . ښه به داوي چه د هغه بل چنګک مزي هم برې کړې . تياره که نه تياره مزي برې کړه او دها نورو ذخيري پورې يې وتړه . او يې مزي برې کړ او د ذخيري پورې يې وتاړه . په تياري کې کار کول ګران و او يو وارې کب دده دا وږو مزي ته داسې ټکان ور کړ چه زوړ سړی پړ مخې ولوېد او زيږمه يې زخمي شوه . وينې يې په باړ خو لږه لار وکړه خو پخوا تر دې چه زنې ته ورسيږي په لار کې وچه شوه .

بېرته ليندۍ ته راغی او د هړي ته يې تکيه وکړه . اوږه يې وښوروله چه مزي د جوال په بل ځای راشي . بيا يې نو په ډېره پاملرنه د مزي نه د کب زور وازمويه لاس يې د ماکو د تلو خواوته کلمه .

فکر يې وکړ نه پوهيږم چه ولې يې ټکان راکړ ښايي چه سيم يې په شا ولېدلی وي . د ده شا به لکه زما ډېره دومره نه خوږيږي فکر يې وکړ که کب ډېر لوی هم وي تر قيامته خو ما کود ځان پسې نشي راښکلی .

اوس نو ذخيره ډېره لرم هرڅومره تلر چه غواړي ور کولی يې شم .

ACKU

وې ویل: «که به تر هغه به درسره یم چې مړ شم.»

فکر یې وکړ دی به هم تر مرګه را سره دوی. زوړ سړی د سهار د رڼا په تمه ناست و. تر رڼا پخوا هوا ډېره سړه وه او زاړه سړي ځان نور هم ورته نژدې کړ. فکر یې وکړ تر هغه چې دی تیار وي زه یې ورسره وم. د سپیدو د چاود سره سم به مزی وایه چې په اوبو کښې ننوتلی و. ماکو په کرار کرار یون کاوه او د لمر لمړنۍ پلوشې د زاړه سړي په ښۍ اوږه ولګېدې.

زاړه سړي وویل: «ماکو د شمال خوا ته ځي. بېخېله جریان به د ختیځ خوا ته بیولی وو. کاشکې کب د جریان سره مل شي. دا به وښیي چې ستړی شوی دی. لمر نور هم جګ شو خو کب په همغه طرف روان و. زوړ سړی پوه شو چې لاندې ستړی شوی. پوهېدو یوه نښه وه. د مزي له کږوالي ښکارېده چې کب اسکه پخوا د وېرې په زور کښې نه دی. زاړه سړي وویل: که خدای ور سره مل شي چې پاس خېز وکړي. ښه پرېمانه مزی ورته لرم.»

فکر یې وکړ راځه چې مزی کش کړم چې چنګک یې خوله ژوبله کړي او خېز ته راشي. اوس رڼا ده، پرېږده چې پاس را وخېژي او خپل سبزي له هوا ډک کړي بیا نو په اوبو کښې ځان ډوبولی نشي. مزی یې کش کړ خو له همغه اوله شخ و او دی پوهېده چې نور نو تر دې زیات نه شخېږي.

فکر یې وکړ باید مزي ته ټکان ور نه کړم. په هر ټکان چنګک د کب خوله شلېږي او چې کب خېز ووهي نو وېرېږم چې چنګک به یې له خولې ووځي.

په هر صورت اوس د رڼا سره بیا تکړه شوم.

په مزي پورې د اوبو خوړو زیړه شلاه نښتې وه خو زاړه سړي یې بېرته کولو ته هڅه ونکړه ځکه چې مزي ور باندې درانده. دا همغه اوخي وي چې په شپې کې یې اکه داوړ چینجي داسې رڼا کوله.

وې ویل: «که په ما ډېر ګران یې خو د ننورځې تر پایه دې وژنم.»

فکر یې وکړ د وژلو نیت خو ودې لرم.

ACKU

دشمال لهخوا یوه وړه چوغکه دماکوخوانه راغله. داو بووړه سر ټیټه الو تله. زوړسړی له ورایه وربا ندې پوهیده چه ستړې ده.

چوغکه دماکوپه دیواله کښیناسته. بیابیرته جګه شوه اودده لهسره یی دوه وخوړه او په مزی کښینیاسته.

زاړه سړی پوښتنه وکړه «چوغکی څو کلنه یې؟ دادې لومړنی سفردی؟»

چوغکی ورته کتل. دومره ستړې وه چه کوزمزی ته یې هم نه کتل. په مزی یی نو کاری تاو کړی وی او وړاندی وروسته زنګیده.

زاړه سړی وویل «چوغکی مزی کلك دی. بیخی کلك دی بیګا شپه خو به باد کښی ګیره شوی نه یې چه دومره ستړې یې. اخر به څنګه شې؟»

فکریی وکړ اخر به یې بانبه خوری. څغه بانبه یې خوری چه دهمد وی دښکار دپاره سیند ته راوځی. خو چوغکی ته یې دباښی هیڅ ونه ویل پوخو دده په ژبه نه پوهیده او بل به یی لدی داپخپله بانبه وپیژنی.

زاړه سړی وویل: «ښه ستومانی وباسه وړی چوغکی. بیا نو لکه د نورو مار غانو او کبانو او خلکو پشان خپل سر نو شت پسی ځه.»

شپی یی ملا ډیره شخه شوی وه او غبزیدلې یې زړه ته ډاډ ور کاوه. ویی ویل: «چوغکی که ماسره پاتې کیږی پاتې شه. افسوس چه زه دلته ګیر یم که نه بادوان به می تړلې و او ددی نری شمالسره به می ساحل ته رسولی وې. خوزه دلته بند یم.»

په همدی وخت کی کب مزی ته یو کلك ټکان ور کړ چه زوړسړی بیی په لیندې وغورځاوه. که تار یی نه وی ور کړی او ځان یی لیندې ته نه وای اړم کړی سیند ته به لویدلی و.

دمزی دټکان سره چوغکه هم الوتی وه خو دزاړه سړی ورته پام شوی نه و.

ښی لاس یی په مزی تیر کړ زخمی شوی و.

په جګه غبزیی وو یل: «له دی نه ښکار یږی چه کوم شی ژو بل کړی دی.»

بیرته یی کش کړ چه و ګوری په کب یی زور رسیږی که نه خو چه مزی ښه شخ شودی ډوه شو چه نه کیږی.

ACKU

وبې ویل: «د کبه اوس لکه چه په ځان پوهیږې . خدای شته چه زه هم د تا غوندې یم .»
شاوخوا ته یې سترګې د چوغکې پسې واړولې . ملګری یې غوښت خو چوغکه
تللې وه .

فکر یې وکړ چوغکې لاړې خو تر ساحله ډېره لیار ده . وای مې کبه پریښود
چه په یوه ټکان مې دومره ژوبل کړې . لکه چه بې عقله شوی یم یا به د چوغکې
سره په مرکه بوخت وم . پس له دې به یواځې خپل کارته اړم شم . ټونا هم باید
وخورم چه ورته کمزوری نشم .

په جګ غږ یې وویل: «کاشکې هلک راسره وای او کاشکې مې لږ دما لګه
د ځانه سره راوړې وای .»

په کږاره یې مزی له ښي اوږې کیڼې ته راواوښت . په ګونډو شو او لاس یې
د سیند په اوبو کښې ومانډه او همالته یې یوه شیبه لاس په اوبو کښې نیولی و
او خپل د لاس وینو ته یې کتل چه د ناریږې رینې په اوبو کې روانې وې . داو
جریان یې ورو ورو په لاس لګیده .

وبې ویل: «د کب یون تر پخوا ډېر ورو شوی دی .»

دزاړه سړي زړه کیده چه لاس لږ نور هم د بحر په مالګینو اوبو کښې وساتي
خو د کب له ناڅاپي ټکانه وویریده او بېرته ودریده . لاس یې لمر ته جګ
ونیو او تکیه یې ورکړه . یواځې د مزي د ورکیدو یې لاس پرې کړی و، خو د لاس کاري
ځای یې و . دده له دې لاسه ډېره تمه وه او ژوبلیدو ته یې خپه و .

چه لاس یې وچ شو وبې ویل: «اوس باید ټونا وخورم . لاس مې ور رسیږي .»

په ګونډو شو او په اوږده چنګک یې د ماکودغولې لاندې ټونا بیامونده او په ډېره
پاملرنه یې په چنګک د ځان خواته کش کړ . ډېر یې پام و چه د مزو په کړۍ ونه لګیږي .
مزی په کیڼې اوږې تکیه کړ او په ښي لاس یې ټونا له چنګک وایست . چنګک یې بېرته
پخپل ځای کیښود . یوه پښه یې په ټونا کیښوده او د سر له خوا یې لکۍ ته تر بڼو نې
ټرانګې تري بیلې کړې او چه شپږ کترې تري بیلې کړې د لینډې په ډډې یې وغوړولې .

ACKU

چاړه یې په پرتاګه وموږله ، د کب د هډو ګوتنه یې له لګیدو نیوله او دما ګو
له شنډي يې او بوته واچوله .

وېي ويل: «ګمان نه کوم چه يوه ټرانګه غونډه په خولې کړی شم.» چاړه يې
وایسته او يوه يې په سورسمه نیمه کړه . په کینې اوږې يې د مزي درونډوالي پروت و
او کينې لاس يې د خپړي په مینځ کې شيری وا او په وېنو لړ ند لاس يې په مزي پوري نښته.
خپل لاس ته يې وکتل « داڅنګه لاس دی!» نو که داسې وي نو هم شير به شه.
خدای دې وکړي چه زما د خولې په شان لوی شي .

کوز يې تور واو بو کښې مزي ته کتل ، فکر يې کاوه ، دلاس ګښنا ونده .
د کب سره دې ډیر وخت تیر شو او اوس هم لا ورسره وهلي شي. نور نو څه غواړي ،
خوراك كوه.

يوه ټوټه يې واخیسته او په خوله يې کړه . ورو ورو يې ښخوندور باندې واهه .
ښه خوند يې و .

ځانته يې وويل: ښه يې ژدويه او ټوله شيره يې ورو چه لږه مالګه يا د ليمو شربت
ورسره واي بد ښه خوند به يې کړی و .

له خپل شيري لاسه يې پوښتنه وکړه «لاسه څه حال لری؟ لږ نور به هم د تا لپاره
وخورم.»

د ټرانګی بله ټوټه يې په خوله کړه . ښه يې وژدويله او ژدوينه يې تو کړه .

« لاسه څنګه چل دی؟ او که لا د وخته دی»

بله ټرانګه يې په خوله کړه او وېي ژدويله .

فکر يې وکړ عجيبه غوښن کب دی. ښه شو چه ددې په ځای مې د الفین ونه نیو. د الفین
غوښه تر ټو نا خوږه وي خو د غوښې شيره زیاته ده . له خوند ورشي نه دا ښه دی
چه سړی شیره دا رشي و خوري ، کاشکې مې لږه مالګه ارلی. خدای خبر چه لمر به
دا نو ري ټرانګی وچې کړي که به يې خوسا کړي. راځه چه ټول همدا اوس وخورم .
که وږی يم که نه يم ټوله به وخورم ځان به تکړه کړم.

لاس ته یې وویل: «صبر کوه لاسه دتا دپاره یې خوړم.»

فکرېږي وکړه کاشکې کوز داو بو کب ته مې هم غوښه ور کولی شوای، دی هم زما ورور دی. خو باید ځان ورته تکړه کړم او دی ووژنم. د غوښې ټوټکې یې دوه ځایه کړې.

ملایې سمه کړه او لاس یې په پرتاګه پاك کړ.

ويې ویل: «لاسه اوس نو مزې خوشې کړه. په شپې لاس به یې ونیسم تر هغې چه تهخپله سپيتانه پرېږدې.» پښه یې په هغه مزي کېښوده چه په کېڼ لاس یې نیولی وه او شا ته یې تکیه وکړه.

ويې ویل «خدای مې دې مل شي چه دلاس زخم مې د کار ه و نه باسي. نه پوهېږم چه کب به څه را سره کوي.»

فکرېږي وکړ اوس خو غلی دی او خپل پلان په مخ بیایې. دا پلان به یې څه وي؟ زما پلان څه دی؟ زه به داخپل دهغه په پلان برابر کړم ځکه چه دی تر مالوی دی که دی خیز و هی زه به یې مړ کړم او که دی ترا خره نه را و ځی نو زه به هم ترا خره ور سره یم.

زخمي لاس یې په پرتاګه و موږه او د ګوتو ټټوته یې وایستل خو ګوتی یې شخې وې او لاس یې نه خلاصېده. فکرېږي وکړ خير دی دلمر سره به یې پخویلی شي. یا چه ټونا په نس کښې او به شي ګوتی به ځان پرا نیزي. که څه ر ته مې پخواتر هغې په کار شو په زوري هم پرانیستي شم خو اوس مې دو مره کېڼ لاس ته حاجت نشته. پرېږده چه پخپله خوښه خلاص شي او پخپله خوښه سره ورشي. بېګامې چه مزی صافول پېږمې و ځوراوه. درسته شپه مې مزی ور باندې صافول او یو بل سره مې غوټه کول.

شاوخوا سیند ته یې ستر ګې وغړولې او ولیده یې چه بېخې یواځې دی. خو کوزدېږي په او بو کښې ر نګینه رڼا لیدله او مزي یې لیده چه غلی اوښوري په او بو ننوتی و. موسمي بادونه لګیدل او وريځي یې کله خور ولې او کله یې را غونډ ولې.

ACKU

دهیلیو یوسیل بی ولید چه دسیند دپاسه کله جگی او کله‌ټیتی تیریدی . ژ و ړ سړی
پوه شوچه هیڅ سړی به سیند کښې یواځی نه دی .

فکرېی کاوه داځه چل دی چه ځینې په سیند کښې و پریېږی . دې پو هیده
چه په بدو موسمو کښې خلك حق هم لري خواوس دطوفانو میاشت وه او چه
دطوفانو په میاشتې کښې طوفان نه وی‌نود کال ترټولو ښې میاشتې همدا وی .
دطوفانونښې سړی شوور ځی دمخه په هوا کښې لیدی شی . خو په دی شرط چه
سړی په سیند کښې وی له ساحله دانښې نه بریښې . دوریځوځیره هم له و چې بل
شانته ښکاری .

هسك ته یې و کتل . دوریځو اشناغونډې لکه‌دشیریخ ټوټې‌یو په بل ولاړې‌وی‌-
تر هغې جگې دسنبلې دمیا شتې دپېې غونډې نرۍ وریځې خوری وی .

وبی ویل: « کبه داموسم زمادپاره ښه دی او ستا د پاره نه . »

کیڼ لاس یې لا شخ و خواوس یې ځان سو که سو که خلاصاوه . فکر یې
و کړ شخ لاس مې‌ډېر بد ایسی . شخ لاس دخپل ځان سره خیانت کوی . که سړی
کانگې ووهی دنورو په‌مخ کې‌شرمیږي، خوشخ لاس سړی خپل‌ځانته شر موی .

که هلك را سره وای‌راته موښلی به یې و، خوخیردی‌خپله به و غږیږي . لږه
شیبه وروسته یې چه کوم وخت په ښې لاس دمزی زور واز مو یه او کوزیی ورته
و کتل دمزی پ‌ه ذ او یې کې یې څه توپیر و لید کیڼ لاس یې په زورم
په خپل و را نه وواهه او مزی ته یې کتل چه ورو ورو په او بو کښې نیغیده .

ویې‌ویل: « کب‌پاس‌راخیژی . لا سه را څه جوړشه .خدای‌روی ته گوره جوړشه »

مزی ورو ورو او په شیبو شیبو جگیده . دما کود وړا ندی اوبه و پړ سید ی
او کب راو خوت . نور هم‌پاس را وخوت‌او او به‌یې له‌اړخو تویې شوی . د لمر په
رنیا کې‌یې ټول وجود ځلیده دشارنگ یې تور بخون چپیا وه او داړخو ایکې یې
دلمردپلوشی لاندې دلو نگ‌به رنگ وی . وربوزیی لکه د ډ ډبې کو تك دومره
اوږد او لکه نیزه داسی تیره وه دماهی ټول وجود یې له او بوووت اولکه ما هر

لامبو زن بېړ ته په اوبو ننووت. زاړه سړي يې لکړه ولېده چه لکه دلاره دمه په اوبو ننوتله.

وېي ويل: «زما ترما کو دوه فوټه اوږد دی.» مزی په تندۍ خو په يوه قرار په اوبو کې روان و او ښکاريده چه کب وار خطا نه دی. زاړه سړي په دوارو لاسو مزی هغومره ټينګ نيولی و چه شکېدو ته نژدې و. پوهيده چه که په کب زور وانه چوی ټول مزی به د ځان سره يوسی او وبه يې شلوی.

فکر يې وکړ کب ډېر لوی دی او بايد سزا ور کړم. پرې يې نږدم چه پخپل زور پوه شي او دی ته يې هم بايد پرې نږدم چه په دې پوه شي چه که يو واري ځان راته اړم کړي څه چارې به رابانه نه ی وکړي. که زه دده په ځای وای نو به مې په درست طاقت مزی تر هغې کشکوده چه شلولی مې وای. خو شکر دی چه کبان د بنيادمانو قدر هوښيار نه دي که څه هم دوی تر بنيادمانو اصيل او قوي دي.

زاړه سړي ډېر کبان ليدلي و. ډېر يې داسې ليدلي و چه تر زرو پنځو ډرانه وو او دوه دغسې کبان يې نيولي هم و خو هيڅکله يوازې نه و. اوس چه يوازې او له سترګو پنا و د داسې کب سره يې سر شوی ی و چه په درست عمر يې نه ليدلی و او نه يې په درست عمر د داسې لوی کب قصه اورېدلې و... د کين لاس ګوتې يې داسې سره نښتې او شخې وې لکه د کچيرمښو ګې چه يو په بل کلکې شي.

فکر يې کاوه آخر به ځان خلاص کړي او د ښي لاس سره به مې مل شي. درې شيان يو بل سره ورور نه دي. کب او زما دوه لاسونه. بايد چه خلاص شي. که خلاص نشي ورته لوی خجالت دی.

کب بيا ورو شوی و او لکه پخوا داسې روان و. زاړه سړي فکر وکړ عجيبه ده چه پاس را وخوت. دا ولې؟ داسې بې خيز کړه لکه ماته چه ځان ښيي چه څو اکې داسې لوی يم. اوس بې له دې هم پوهيږم. کاشکې مې يو وار ور ښوولی شوای چه زه څرنګه سړی يم خو بيا به يې زما شخ لاس ليدلی و. پرېږده چه د قوي سړي خيال را باندې وکړي او تر هغه به زه هم ځان ورته تکړه کړم. فکر يې وکړ کاشکې زه کب وای.

ACKU

ده سره هر شی شته او ماسره یوازی یوه اواره ده چه کراره کښېناست او اودرېدی ته بی تکیه وکړه کښ په شپېو لار وهله او ور سره ما ک و په تورو ابو کښې روانو دشرقی شمال سره په سیند کښې لبزی څپې پیدا شوی او دغرمی سره سم دزاړه سړی کینې لاس وغوړېده.

وبی ویل: «کبه بدزیری در کوم. غرمه ده». داوزی مزی دجوال بل ځای ته وښویاوه. زوړ سړی اوس دمه و، خولبز ژبلی شا نته همو. خوده خپل ز پلتوب په مخ نه راوړ:

وبی ویل: «زه په دی عقده نه لرم خو ددی کښ دنیو لود پاره به لس واری په مسیح اولس واری به په مریمې درود ووایم او قول دی چه را کښ و نیسم د سپېڅلی کومر زیارت ته به هم لاړ شم. هو، قول دی.

بی له فکره بی په درود ویلو پیل وکړ. کله به دومره ستړی شو چه درود به بی هیر شو او بیا به بی نو ژر ژر ویل چه بڅپله یوایت دبل پسی ور په یاد شی. فکر بی وکړ دمریم درود دمسیح تر درود ده آسان دی.

«درود دی وی پرتاای مریمې دخدای تول برکت دی درسره مل وی د ښځو په مینځ کی ته مبار که ئې او ستا دباغ میوه چه مسیح دی مبارک دی. سپېڅلی مریمې دخدای موری زمونږ ګنا هګارانو په حق کښې دغه اوس دمر ګ په وخت کښې دعاو کړه. «وروسته بی زیا ته کړه» سپېڅلی پیغلی ددې کښ دمر ګ دپاره هم دعا و کړه که څه هم ډېر ګلا لی دی.» چه بی دعا خلاصه کړه اوا راده بی قوی شوه دلیندی په درېدی تکیه وکړه او په غیر ارادی ډول بی د کینې لاس دګوتو په پستولو پیل وکړ.

اوس هم لکه پخوا ژ بلی و.

که څه هم د او بو له سره یوه نری ربړه جګیده خو لمر اوس تو دو.

وبی ویل: «راځه چه دهابل مزی د چنګک شومه تازه کړم. که کښ غو ښتل چه بله شپه هم په ماتیره کړی نو بیا به خوراك ته اړشم. دبوتل او به هم مخ په خلاصی دی او ګمان نه کوم چه چپ له ډا لفینه بل شی لاس ته راشی».

ACKU

«دړ الفین هم چه تازه و خورم تنده‌می پر ما تیږي. کاشکې نن شپه کوم الوتونکی کب ما کړ ته راټوپ کړي. افسوس چه ما سره رنها نشته دده راته پام‌شوی وای. الوتکی کب اوم ښه خوړ کیږي او ټوټې کولو ته یې هم‌حاجت نشته. باید خپل ټول زور وسپموم. زه نه‌پوهیدم‌چه دومره لوی دی خو د دې دومره لوی او عظمت‌سره‌سره‌یې وژنم.»

فکر یې وکړ دابد کار دی خوورته‌وبه ښیم چه‌د انسان‌له‌لاسه څه شیان‌پوره‌دی او انسان څومره زغمون لري.

ویې ویل:« هلك ته مې ویل چه زه یو عجیبه زوړ سړی یم او اوس یې د رښتینولۍ وخت دی.»

زړ واری یې هلك ته ثابته کړی وه خوهغه خوشې‌و اوس بې بیا ثابتوله. هرځل نوی وارو او چه دی به وربا ندې لګیاو نو دتیر وار په‌برخې کې‌به‌یې هیڅ فکر نه کاوه.

فکر یې وکړ کاشکې زه او کب دواړه ویده شو او ځمری په خوب کښې وګورو. نه پوهیږم چه ولې به‌دې دومره نورو ژوو کې ځمری‌تر ټولو مهم‌دی.

ځانته یې‌وویل:« زړه سړیه فکر مه کوه. کراردړی ته تکیه‌وکړه‌او هیڅ‌شی مه‌در په‌یاد وه. کوز به‌اوبو کې کب به ګوم کار‌لګیا دی نو ته هر څومره چه کولی شې‌ لیز بوخت شه.»

تیرما سپښین‌و او ما کولا په شیبو شیبو اویوه قرار روان‌و. خواوس شرقی شمال د کب په‌مزی لیز نور زور هم اچولی و او زوړ سړی په کراره د سیند د نرمو اوبو دپاسه روان‌و. دړو یې‌دمزی‌لاندې سپك او نری‌نری سوی کاوه.

دتیرما سپښین په یوه وخت کې مزی ناڅاپه په‌اوچتیدو پیل‌وکړ خو کب داوبو لاندې لیز را اوچت شو او بس. لمر دزاړه سړی په کیڼ مټ او ملا او زی نیغ لګیده. یوه شوچه کب دشمال لویدیځې خواته سم‌شوی‌و. اوس چه بې کب یوازی لیدلی و دځانه سره یې دلمبا په حال کې مجسم کولی‌شو. چنیا رنګه

ACKU

ښځې یې په دواړو اړخو کښې لکه وزرو نه وې او نیغې لکه دئې توري او په شیرلي.
فکر یې وکړ نو هېبزم چه په دې دومره ژورو او بوکي یې ستر ګي څو مره لار ګوري. دنه ستر ګې خو غټې دي داس ستر ګې چه دده تر ستر ګو وړې دي په تیاره کې لید کولی شي. ماهم یو وخت په تیاري کې ښه لید لی شو. داسې نه چه بیخي به رڼا نه وه خولکه پېشو چه په تیاري کښې لید کوي.

دلمرتاو او دده ګوتو پستوالي اوس کیڼ لاس بیخي پرانیستی و او اوس یې دمزي ډېرزور ور باندې اچولی شو. اوزي ته یې رپ ور کړ چه مزی له خوږ ځایه څه قدرې چپ شي.

ویې ویل: «کبه عجیبه شی یې چه لاستړی نه یې.»

خپل ځان یې ډېر ستړی ستومانه لیده او د بلې شپې را تلو ته یې پام شو او زیاریې وایست چه پام په نوروشیانو غلط کړي. لوی ټیمونه یې په یاد راوستل او پوهیده چه دنیویارك دیانکي او دډیټرایټ دېرانګانو ترمینځ لوبه روانه ده.

فکریې وکر دادویمه ورځ ده چه دلوبي نه خبرنه یم، ستر ډیما ګو باندې خو باید باورولرم ځکه چه دی هره لو به سرته رسوي، که څه هم د پوندې په هډو کو کښې خنډ دی، له ځانه یې پو ښتنه وکړه دهډو کو خنډڅه شی وی؟ مونږ کب نیوونکی نه ارو، ایا دو مره درد به کوی لکه د سړي په پوندې کښې چه دچرګ خنډ ننو ځي؟ زه خو فکر نه کوم چه دپوندي خنډ یا د یوي ستر ګې یادد واړو ستر ګو بایلل و زغملی شم او بیا هم لکه چر ګ خپل جنګ ته لا دوام ور کړم: انسان دلویو ځنا ورو او مار غانو تر څنګ وړو کی دی، کاشکې زه دهغه ژوی غوندې وای چه کوز د او بو لاندې دی، خو د شارك تر راتګه پخوا.

ویې ویل: «که شارك را برابر شي خدای دې په ما او په کب دواړو ور حمیږی.»

فکر یې وکړ ایا ستر ډیما ګو به دیوه کب سره دو مره موده تیره کړې وای

لکه دا زه یې چه تیر وم؟ زه باور لرم چه ده به‌تردې لا ډیره موده تیره کړې وه ځکه چه ترما ځلمی او تکړه دی، پلار یې هم کب نیوونکی و، خو نه‌پوهیږم چه د هغه وکی خنده به یې زښت ډېر ژوبلوی؟ که څنګه؟ وئی ویله زه نه شم پوهیدلی ځکه چه‌هیڅکله مې داسې خنده په پوندې نه دی ختلې.

دلمر پریواته سره سم ور په یاد شو چه باید ځان ته ډاډ ورکړي، په کازابلانکا کښې چه‌ده‌دسپین‌فویګوس‌تور پوستي سره پنجه‌ور کړې وه، داتور پوستي دبندر تر ټولو قوي سړی و، یوه ورځ او یوه شپه یې څنګل د میز په سر په هغې لیکې ایښې وه چه په سپین‌تباشیر کښل شوې وه، لاسونه یې همداسې نیغ نیولي و او منګولي سره کلکې کړې وې، هر یوه زیار ایست چه د بل لاس په میز څملوي، ډیرو خلکو ور باندې شرطونه تړلي و او خلك د کوټې په رڼا کښې وتل او ننوتل. او زاړه‌سړي دتور پوستي مټ او مخ ته کتل، په هرو څلورو ساعتو کې ریفري بدلیده او هابل ریفري به خوب کاوه، دده او تور پوستي دنوکانو له لاندې وینې روانې وې او دوی یو دبل‌مټ‌اوسترګو ته کتل شرط والا خلك وتل ننوتل او په جګو چوکیو دیوال‌ته نژدې ناست وو، ټول ددوی ننداره کوله، دیوالونه دلرګي و او اسماني رنګ ور کړ شوي و، تیلي ډیوو خپل سیوري ور باندې غورځول، دتور پوستي سیوري ډیر ستر و او چه شمال به څراغ لګیده دده‌سیوري ورسره‌په‌دیوال خوزیدل.

ACKU

درسته شپه به بری کله دیوه‌او کله دبل‌په‌برخه ښکاریده، خلکو تور پوستي ته شیبه په شیبه شراب ورکول او ده ته یې دده سګرټ لګول، کوم وخت چه به تور پوستي شراب وڅښل ډیرزور به یې وا چاوه‌او یوو اری یې نژدې دده لاس څملولی و، دې هغه وخت زوړ نه و بلکه دشامپیون سانتیاګو په نامه یادیده تور پوستي یې لاس دری انچه کوږ کړخوده بیرته نیغ ودراوه او پس له دې نو پوه شوچه تور پوستي یې ګیر کړی دی. تورپوستي‌یولوړ دنګ کلالی اتل و.

دسهار د رڼا سره سم چه شرط والاؤ غوښتل لوبه مساوی اعلان کړی او ربغړی نه منل زاړه سړی خپل ټول زور ورته اچم کړ او د تور پوستی لاس یی کوز کړ. نو ربی هم کوز کړ ترڅو چه یی په مینځ وغزاوه. لوبه دیکشنبی په سهار نښتی وه او ددوشنبی په سهار پای ته ورسیده. ډیرو شرط والاؤ ځکه داوبی بس کول غوښتل چه دوشنبه د کارورځ وه او دوی مجبور وو چه دبوری د بار ولو دپاره بندر او یاد هوانا دسکرو شرکت ته لاړ شی. خو زاړه سړی لوبه د کار له پیله بخوا خلاصه کړه. پس له دی ورځی ډیره موده خلکو ده ته اتل ویل. ده مدی کال په پسرلی کی یی بیاد تور پوستی سره پنجی ور کړی. داواری دومره ډیر شرطونه نه وواو په اسانی یی لوبه وګټله ځکه چه په هماغه اول وار یی د تور پوستی زړه غور ځولی و.

وروسته تر هغی یی یو څو نور میچونه هم وکړل خو نور یی بس کړه. بوه شوچه که دی وغواړی د هر سړی لاس ځملولی شی خو اخر به یی ښی لاس له کب نیولو پاتی شی.

څوواری یی په کیڼ لاس هم دامتحان دپاره میچونه وکړل خو دده کیڼ لاس همیشه نامردی کوله او هغه شی چه ده ورنه غوښتل نه یی کول او ده هم ورباندی زړه نه ښه کاوه.

فکر یی وکړ لمر می لاس ښه پوست کړی دی او که دشپی ډیر یخ نشی ګوندی بیا شخ نشی. نه پوهیږم چه نن شپه به څه پیښی راوښی.

یوه الوتکه چه مخ په میامی روانه وه ددده له سره تیره شوه او زاړه سړی یی سیوری ولید چه د الوتونکو کبانو ډله یی وترو له.

ځان سره یی وویل: چه که دومره ډیر الوتونکی کبان شته نو ضرور به ډالفین هم ورسره وی. داوزی مزی ته یی وکتل او لیز یی راکش کړ چه په کب یی زور رسیږی که نه خو هیڅ نه کیده او مزی دومره شخ وچه شلیو ته نږدی و. داوبو څاڅکی تری څڅیدل.

ماکو ورو ورو روان واوده ترهغه دالوتکی پسی کتل چه بی نورله ستر ګو پناه شوه.

فکر یې وکړ دا لوتکې سپړلې به عجب خوند لري. خدا ز ده چه له الو تکې به سیند څنګه ښکاري. که الوتکه ډیره جګه نه وي نو به په سیند کښې کبان لیدی شي. ډیر مې شوق کیږي چه په یوې الو تکې کښې دوه سوه وازې جګ وروورو د سیند په سر وګرځم او له پاسه کوز په اوبو کښې کبان وګورم.

د کښتۍ نیوونکو په بیړۍ کښې چه زه د بادوان دستنې په سر ولاړ وم له هماغو مره جګ ځایه مې هم په اوبو کښې ډیر شیان لیدلي شو.

ډالفین له پاسه ډیر شیان ښکاري او داړخو پټې او شنه خالونه یې رانه لیدل کیږي او ټوله ډله سرې لیدی شي. داولې داسې ده چه ټول کړندي کبان په اړخو کښې پټې او طلایي رنګ لري خو چه وږي وي او د چنګک د ښومې بسې راشي نو داړخو لیني کښې یې څپیالیکې پیداشي. چه دا به د قار نښه وي او که د کړندي تګ نه پیدا کیږي.

لږ پخوا تر دې چه تیاره شي کوم وخت چه ما کو د هغو بوټو له مینځه تیریده چه د سیند سره کوزوباس تاویدل او لکه میښان چه د زیړ تلتک لاندې یو د بل سره مینه کوي یو په بل اوښتل. راوښتل د زاړه سړي خپل هاېل لندمزي ته بام شو چه ډالفین په کښې ګیر و.

ډالفین له اوبو خیز کړ او د زاړه سړي ور ته بام شو. اړخونه یې د لمر په ډړوستیو بلوشو کې لکه سوچه زر رانه ځلیدل. له وا خطایې یې بیا بیا خیز ونه وهل. زاړه سړي خپل غټ مزي په ښي لاس ونیوا و ځان یې ورو ښکاوه په کیڼ لاس د اډلفین مزی کش کړ او هرو اری یې را ښکلی مزی کینه پښه کیښودله او نوري را کشکوده. چه د الفون ما کو ته نژدې شو نو یې ټو بو ته زور ور کړ. زاړه سړي ډډې ته تکیه وکړه او تو ربخون طلایي کب بې چه څنیا خالونه یې لرل ما کو ته وخیژاوه. د ډالفین داړی به چنګک ښښی وي او تني او لکه یې د ما کو په غولي ترهغه ترپکی وهلی چه زاړه سړي به کوتک په طلایي سر و واهه او پس له څو شیبو یې ریږدیدا غلې شوه.

ACKU

له چنګکه یې خلاص کړ . بل سار د بڼ بې په چنګك کړ او مزی یې سینه ته
وغورځاوه . بیا نو بېرته خپل ځای ته لاړ . کیڼ لاس یې ومینځه او په پرتاګه یې
ومونښه . وروسته یې زی له ښې لاسه کیڼ ته بدل کړ او ښې لاس یې سینه کښې
پرې مینځه . لمر یې ولید چه په سینه کښې ډوب شو او خپل غټ مزی ته یې وکتل .
وی ویل: «د کب تنګ لاو روښوی نه دی .» خو چه دا وبو جریان یې په لاس
وکوت نو یې د کب په بون کښې ښکاره تو بیر ولید .
وی ویل: «دواړه چپې به هم به ماکو بوری وتړم چه په شپې کی یې تنګ ورو کړی .
کب خو د شپې دپاره هم ور ته تیار یم . «دی او زه هم ور ته تیار یم»
فکر یې وکړ ښه به داوی چه د الفین لږ روسته خو شیرم چه وینه ئې بهغ و ښی کښې
پاتې شی . دا می چه وکړه نو به چپې هم به ما کو بوری وتړم اوس به ښه داوی
چه کب لږ کر اروسا تم او د لمر پریواته په وخت کښې یې و نه ځوروم . لمر پریواته
د کبا نو دپاره ډیر سخت وخت وی .

لاس نو یې هوا ته ونیول چه وچ شی بیا یې زی په لاس کښې ونیول او ځان یې
په کرار کړ او دړی ته ئې داسې تکیه وکړه چه مزی ډیر زور په دړی راغی .
اوس یې چل راځی فکر یې وکړ خو په یاد لره چه کب له هغه وخته چه په چنګك
کښې ګیر شوی تر اوسه وږی دی . لوی کب دی او خوراك ور ته په کار دی .
ما یو کب درست وخوړ او سبانه به الفین هم وخورم . هغه وخت چه دا الفین یا کوم لږ به
تری وخورم . د الفین خوراك تر هغو ناسخت دی خو هیڅ شی به ړی کښی اسانه نه دی .
په جګ غږ یې وویل: «کب ته څه حال دی دی . زه خو تکړه یم او دیوی شپې او ورځې
دپاره خریدار خوراك لرم . در کاږه بادر کاږه . »
خو په رښتیا تکړه نه و ځکه چه داوږو د مزی لاندی درد اوس له درده تیرو او
داسې یو رقم کړ ختې په کښې وه چه دی تری ویره یده .
فکر یې وکړ خو ما نردی لا بدې ورځی تیرې کړی دی . اوس خو می لاس ښی لاس
لږ زخمی دی او بل لاس می نرم شویدی لیکن پښې می ښخې تکړه او قوی دی او پر کب ښنلی بم

ACKU

اوس تیاره وه ځکه چه سپتامبر په میاشت کښې د لمر پرېوتو سره سم تیاره شي. زاړه سړي د ماکو چینجن لرګي ته تکیه وکړه او ځان یې په کلا کرار کړه د شپې ستورو په ځلیدو پیل وکړه. ده د ستورو نومونه نه وزده خو پوهیده چه ژر به ټول وځلېږي او خپل داری وطن اشنا یان به بیا مومي.

ویې ویل: «کب هم زما اشنا دی. دا سې کب یې به خپل ټول عمر کښې نه لیدلی او نه مې اورید لی دی خو باید مړ یې کړم. رښتیا ښه دی چه مونږ د ستورو وژلو ته هڅه نه ده کړې. ته فکر کوه که هره ورځ یو سړی د سپوږمۍ د مړ کب پسې پښې لوڅې کړي خو سپوږمۍ تري تښتیدی شي خو فرض کړه چه یو سړی د لمر د وژلو تکل وکړي فکر یې وکړ مونږ له موره نیك چانسه پیدا شوي یو.

وروسته نو بیا د کب د پاره خپه شو چه هیڅ خوراك یې نه و کړی خو په خپګان کې یې هم د کب د وژلو نیت له زړه و نه ایست.

فکر یې وکړ څو مره خلك به ماړه کړي. خوایا دا خلك په دې ارزي چه دا کب وخوري. ښکاره ده چه نه ارزي. که سړی د دې کب لوبې او کړنو ته ځیر شي نو پوهیږي چه هیڅوك یې د خوړ لو ارزښت نه لري.

فکر یې وکړ زه په دې شیانو نه پوهیږم خو ډېر شکر دی چه مونږ د لمر سپوږمۍ او ستورو وژلو ته هڅه نه کوو. همدا بس دی چه د سیند د ورونو په وژلو ژوند کوو.

فکر یې وکړ اوس باید د ماکو چاپیره ته فکر وساتم. هر څه چه کیږي باید د الفین شیي کړم چه خراب نشي او ځان د تکیه سانلو د پاره باید لږ تري همدا اوس وخورم. خو اوس حاضر باید یوه شیبه دمه وکړم او داسې ونګېرم چه کب بېخي ساته لري او کرار پروت دی او په همدې حال کښې د کب کړنو ته پام وساتم چه په تګ کښې یې کوم بدلون راغلی دی که نه.

چې په ماکو پورې نښلول عجیبه چم دی خو اوس له چمه خبر تیره ده او باید دومره کار تري واخلم چه ما وساتي. کب لا تر اوسه تکړه دی او ما په خپلو سترګو ولید چه چنګك یې د خولې په ګوټ کښې نیولی وا و زامې یې یو په بل کلکې کړې وې. د چنګك

در د خو کب ته هیڅ شی هم نه دی خو خبره دلته خرابه ده چه کب پو هیږی چه دداسی شی سره بی سرشوی چه دی یی نه غواړی . زړه سړ یه اوس ښه ده او کره او ډېریږده چه کب کارو کړی تر هغه چه ستا کار ته ضرورت پیښیږی .

د دوو ساعتو دپاره کرار شو . سپوږمۍ تر ناوخته نه راختله او دی نه پوهیده چه څومره وخت یی دمه کړی . چند یانې دمه یی هم نه وه کړې خو یو څه وه . د کب درو ندوالی یی په اوږ و پروت و خو کیڼ لاس یی دما کوژ ته و رووړ اند او ږی ډېر زور یی په دړې راوست .

فکر یی وکړ چه کمزی می تړلی وای څومره به اسانه شوی وخو بیابه یی په یو تکان شلولی و . باید دمزی زور په اوږو راولم او هره کړی باید تیار اوسم چه کله کب تکان را کړی په دواړو لاسو مزی ور وغزوم .

ځانته یی وویل: « تا خو تر اوسه خوب نه دی کړی . نیمه ورځ او یوه شپه او داده بله شپه را غله او تا هیڅ خوب نه دی کړی . ته باید داسی چل پیدا کړی چه که کب غلی وی ته خوب وکړی شی ځکه چه که خوب ونه کړی ماغزه به دی کډ وډ شی . »

فکر یی وکړ اوس خو می ماغزه تکړه دی او فکر می روښانه دی داسی روښانه لکه داز مو ږ ور ونه ستوری خو سره له دی هم باید لږ خوب وکړم . ستوری بیدیږی . سپوږمۍ او لمر هم بیدیږی او حتی بحرونه هم ډ ډ . کله چه جریان په کښی نه وی او کرار وی خوب کوی .

په یاد لره چه خوب وکړی . ځان خوب ته اړ کړه او دمزی دپاره کوم ښه چل جوړ کړه اوس نو ورځه ډالفین دپوستکی کړه . د خوب په وخت کښی ماکو پوری دچپو ترل خطر لری .

ځان سره یی وویل: « بی خوبه می هم وخت تېرولی شو خو ډېر خطر لری » په خاپوړو دماکو بل سرته ولاړ . ډېر یی پام کاوه چه ماکو هیڅ ونه ښوریږی . فکر یی وکړ کب به په خپله نیمایی ویده وی . خو زه نه غواړم چه دی ځان هوسا کړی دی باید تر هغی مزی را کاږی تر څو چه ساه کښی دی .

ACKU

د الفين ته ور رسيدو بې د مزي زور په کيڼ لاس ئې چاوه او په لاس ئې چاړه له تيکي وايسته.
د زړه ستورو د ځلاند او شولاند ی بې دالفين ژليد. چاړه بې په سرور و منډله
او د ماکوله غولي بې ټهر راو کيښ. بوه پښه بې وربانده ی کيښوده او له نامه ئې
دې واړو ستر ګو تر ګوته څيري کړ. بيابې چاړه کيښوده او په ښي لاس بې
له نسه پرخړي وايستې. په نس کښې بې دوه الوتونکي کبان وو. دواړه تازه واو
زاړه سړي څنك په څنك په غولي کيښودل او د نس لري کولمې بې د ماکوله څنګ ی
سيند ته خطا کړې. برخړي ورو ورو په او بو کښې ډوبې شوې او
تر شايي يوه سپينه رڼه ايكه پر ښوده. ډالفين د ستورو په رڼا
کښې سپين ښکاريدون او تنګي تنګي ښکاريده. په سر بې پښه کيښوده او
يوه خوا ئې د پوستکي کړه. بيابې په بل اړخ واړاوه او له بلې خوا ئې پوستکي و کيښ او
بيابې پوستکي له دواړو خواؤ له سره تر لکيه پري کړ.

د کب ټوټو ئې د ماکوله څنګ او بو ته خطا کړه او کوز بې او بو ته وکتل چه کوم ګرداوي
په کښې پيدا کېږي که نه خوليده بې چه ټوټو کې څه شى کښې نه کړل او پخپله ورو ورو
ډوب شوه. بيرته وګرځيد او دواړه الوتونکي کبان بې د ډالفين د غوښې په مينځ
کښې کښېښودل او چاړه بې بيرته په تيکي ومنډله او بيا نو په ډېر ارام ئې ځان لېندي ته
وښکاوه. شا يې د مزي د زور لاندې کړه په وداو ډالفين بې په ښي لاس کښې نيولې و.

لېندۍ ته په را رسيدو بې ډالفين او دواړه الوتونکي کبان خپل څنګ ته په ډېرې کيښودل.
مزي بې بيا د اوږې په بل ځاى راووست او په کيڼ لاس بې ونيوه او ډې ته بې تکيه
وکړه. ځان بې د ماکوله څنګ ی کوز ځوړند کړ او الوتونکي کبان بې په
او بو کښې پرې مينځل او د اوبو سره بې د اوبو ګړندي توب په لاس وازمويه. لاس بې
د ډالفين د پاکولو له اثره رڼا کوله. د اوبو جريان زغر دواو چه د لاس د ماکو په ډېرې
پاکاوه له لاسه بې ځليدونکي بخري تو بيدل.
وېې ويل په بيا ستړى دى او يا بې ځان غلى کړى دى او س نو راځه چه ډالفين په خوړلو

لګیا شم او ورو روسته لږ خوب و کړم .» په سهار چې کښتۍ په دستور روانه ته د ډالفین نیټه
توته او یو الوتونکی کب وخوړ .

ویې ویل: « د ډالفین چه سری پوخ وخوری عجیبه شی دی او ومې هیڅ نه خوند وی
بیا به هیڅکله په ماکو کښتۍ مالګې یا لیمو سره نه خورم .»

فکر یې وکړ که زه ساده نه وای نو به مې درسته ورځ د ماکو په دیوال د مښنې
مالګینی او په شیند لی اوس به او به وچې شوې وای او ما الکه به په دیوا او باتی وه .
خو زه څه خبر وم چه د ډالفین به نیسم داخو د ترلاسه پر یو تو ور وسته ګیر کړ . خو بیا دم
زما یې فکر یو . اوس مې نو ژدویلی دی او خوله مې بی خونده نه ده .

ختیځ خوا اسمان په وریځو پټیده او هغه ستوری چه ده پیژندل یو په بل پسې
ور کیدل . داسې ښکاریده لکه چه ماکو د وریځو په لوری کښتی روان وی
باد هم درید لی و .

ویې ویل: « دری څلور ورځې پس به هوا خرابه شی خو نن او سبا به ښه وی . اوس
نو زه په سر یې کب لا غلی دی یو ه شیبه ویده شم .

مزی یې په ښې لاس شخ . راوړ ون یې ورته تکیه کړه . ځان یې نور هم ورته تکیه کړ ،
بیا یې داوزې مزی لږ داوزو څو کی ته راووست او کیڼ لاس یې ور باندی کښېښود .
ښی لاس مې تر څو چه ور ون ورته اړم وی مزی نیولی شی . که په خوب کښې مزی
ور نه خوشی شی نو چه د کیڼ لاس ته یې زر به پری خبر شم .

په کیڼ لاس مې لږه سختی را ځی دا خو غریب ګوتې په ژړا پوخ دی که زه شل دقیقې یا
نیم ساعت ویده شم بیا هم دی تکړه دی . مخکې یې تکیه و کړه او د مزی نول زور یې په
ښی لاس راغی او ویده شو .

په خوب کښی یې ځمری نه لیدل او د هغې په ځای یې داورد کشپا نو د له لید له چه
لس میله یې سیند ډک کړی و . دا نود کشپا نود سورلی د وېم او له او بو به جګ
والو تل او بیرته به په اوبو ننو تل بیا یې خوب لیده چه دی په کلا له کښی په
کټ پروت دی د شمال له خوا باد لګیده او دیر ساړه دی او ښې

لاس یې خوب وړی ځکه چه ده د بالښت په ځای ور باندې سر ایښی دی و روسته نو بیا د افریقې ژېړو شګلنو سواحلو ته را وګرځید او څمری یې ولیدل چه ورو، ور و ساحل ته را کوزیدل او نور څمری ور پسې راتلل. ده ډېره په ژړ ی ز نه ایښې ده او ننداره ئې کوی ډېرې لښکرا چولي وا و کراره ولاړه وه. دې ننداړو ته خوشاله و.

سپوږمۍ ډېر وخت په آسمان کښې وه خودی ویده و او کب په شپږو روان و او ماکود کوډی کوډی وریځو له مینځه تېر ېده.

په همدې کښې ؤ چه د زاړه سړی ښی سوک په شرق دده په مخ ولګیده او لاس د مزی ښویېدو د تندې له کبله وسوزید. له خپل کین لاس څخه بې خبر نه واو د ښې لاس په ټول زور یې مزی کلک و نیو خو مزی لا هم په تندې ښوییده. په آخر کښې یې کین لاس په مزی برابر شو او کش یې کړ. مزی ئې کین لاس او اوږه دواړه سوزول. کین لاس یې ټوله زوره اخستې وه او سوی یې کاوه. بېرته یې د مزو کړی تو کل چه په ډېره چټکتیا خلاصیده. په همدې وخت کښې کب پاس خیز کړل او ورسره دا اوبو دڅېږو شړپهار جګ شو. کب بیا اوبو ته ور اوریده. بیا او بیا یې له اوبو خیز کړل او ماکو په تندې ور پسې روان و او مزی هم په چټکۍ غزیده زاړه سړی دومره په مزی زور اچولی و چه شکیده ته نژدې شو. د مزی له زوره دلینډې ډېرې ته څو واري کلک اچولی شو او مخ یې د الفین ټوټې پورې ښښتی و او ځان یې ښو ښور ولی.

فکر یې و کړ همدې ورځې ته مې ګیلنو راځه ګالې. د مزی کساتړې واخله. د مزی دمرې لويشتې کسات ور نه وا خله.

ده د کب خیز ناڅیده او او بوا زړی یې د اوبو ځیرل او دغور ځیدو شړپهار اوریده، د مزی چټکتیا یې لاسونه پرې کول خودی له پخوا پوهیده چه همداسې به شي او دومره یې پام ګاوه چه د لاس پاسته ځای و نه ژول نشي او یوا ځې پرې او وږه ځایونه پرې شي، فکر یې وکړ که هلک دلته وای د مزی کړی به یې راته لمد وله. هو که هلک دلته وای. که هلک دلته وای.

ACKU

مړی غزیده غزیده او لا پسی غزیده خو اوس هغو مره په تندی نه ووت .
دزاړه سړی په هر اویشت مړی د کب سره جګړه وه. اوس یی سر له د ړې او
دډ الفین له هغې تو تې جګ کړ چه مخ یی ور پورې نښتی و . ویر یده چه زړه به یی
بد شی او کـا ګی به ور شی نو یی مخ پاك کړ او ښی لاس یی دما کو له څنډې
په او بو کښی پر ې میښخه او همالته یی په مالګینو او بو کښی لاس و نیو او تر هغه ئې
څار کا وه چه دسهار لو مړنی رڼا خو ره شوه .

فکر یی و کړ کب بڼخی دلمر خاته خواته روان دی . مانا داچه ستړ ی شوی
دی او دجریان سره ځی . زړ به د وریږو هلوته راو ګرځی بیا به نودواړو رښتیانیه
جګړه شرو ع شی .

وروسته یی پام شو چه لاس یی ډ ډ. وخت په او بو کښی پا تې دی .

له او بو یی وایست او ور ته وئې کتل .

و یی ویل : « دو مره خود کاره نه دی و تلی . سوی کوی خو درد ه ړه ته کومه
غټه خبره نه ده .

مړ ی بی په ډېر پا مدا سی په لاس کښی و نیو چه په پړې شوو ځایو برابر نشی
او اوږه بی داسی وخو ز و له چه کیڼ لا س یی د ما کو په هابلې خو ا کښی
د میڅلو دپاره وز کار شی .

و یی ویل : « کیڼه لاسه تا خو هم دومره نامردی و نه کړه خو یوه شیبه می بڼخی ورك
کـړی وې . »

فکر یی و کړ ولی ددوو تکړه لاسو سره زه پېز پـدلی نه یم . دا به زما ګناه وی چه
کیڼ لاس می ښه روزلی نه دی خو خدای ته ښکاره ده چه څومره می خواری ور پورې
کړې او څومره چانسونه می ور کړی دی . شپې خودومره بدنه و او تش یوواړی یخ
وهلی دی که بیا یی یخ ووهی پرې به یی زدم چه زی بی چور پرې کړ ی .

ځانته یی پام شو چه فکر یی خراب دی او باید دډ الفین غوښه وخوری نو یی ځانته
و ویل : « خوراك چېرته کولی شم . وزی نس ښه یی نه داچه دډ الفین په خوراك

ACKU

دې زړه بد شي . بيا به له کانګو ځان نشم ساتلی ځکه چه ماو ليد چه مخ مې ور پورې نښتی و ، راځه و به يې ساتم چه وروسته يې په کار نشي خو اوس د ځان د تکړه کولو وخت نه دی ، ځانته يې وويل : « ته خو بد سا ده يې ولې هابل الوتونکی کب نه خورې ، ووړ کب يې تر څنګ مينځلی او تازه پروت و . په کيڼ لاس يې جګ کړ او خولې ته يې کړ . وروور و يې ور باندې شخوند وواهه او هډو کې يې و شپيلل . فکر يې وکړ . ډالفين الوتونکی کب تر هر شي ډېر شيره او قوت لري . ابز تر ابزه هغه قوت چه ماته په کار دی . اوس د خپل وس پورې د ځان چاره و کړه . اوس دې نو خپلې دورې وهي او په جګړه به پيل کوو .

ددريم ځل د باره لمر را وخوت او ورسره کب هم په دوروپيل وکړ . زوړ سړي د مزي له تاويد و نه پوهيده چه کب لا ما کوکر چاپېر دوره کوي . په اوزو يې د مزي سپک غوندې بار حس کاوه او په ښي لاس يې په کرار کرار مزی راښکه . د هر وار کشکو او سره به مزی دومره شخ شو چه شليد و ته به نژدې شوايله به مزي ابز څه دننه راغی . اوزه يې د مزي له لاندې خلاصه کړه او په لاس يې سو که مزی ته کش ور کاوه . په دواړو لاسو يې مزی ونيواو په ټول زور يې کش کړ . و چ زاړه لينګی او او زې يې د کشکو او سره ريبز د لې .

وبي ويل : « دوره يې ډېره پراخه نيولې خود وره وهي . »

بيا يې نو پام شو چه مزی په ځای دريدلی او نه راځي . په دو اړو لاسو يې تر هغه کش کړ چه له مزي پرخه پرخه او به والوتې خو مزی د کب خواته په غزيد و پيل و کړ . زوړ سړی په ګونډه وشواو ورو وروي مزی پريښود چه په تورو او بو ننوځي .

ويې ويل : « کب د خپلې دورې ليرې برخه وهي . څو مره چه مې وس رسيږي بايد مزی هغو مره شخ و نيسم نو به يې دوره لاره لنډه شي . ګوندې يوه ګړی وروسته يې و ګورم . »

ويې ويل : « خو اول يې بايد پوه کړم بيا يې مړ کړم . »

خو کب هماغسې ورو ورو دوره وهله او زوړ سړی آن تر ډېره و کوستړی او

ACKU

له‌خولو خیشتو، خواوس یې دورې ترېخوالنیا یسته‌لنډې شوې وې او له مزي داسې ښکارېده چه کټ لګیدلی له‌ژورو او بو پاس راخېژي .

یو ه شیبه پخوا زا ړه سړی تور ټکی خپلو ستر ګوته مخامخ لیدل او دخولو مالګینی او به‌یې په‌ستر ګواو دستر ګو دپاسه‌به‌پرې شوې ځای کېښې تویې شوې‌دي. دی له تور وټکونه ویریده . دستو مانې په وخت کښې داټکی طبیعي شیان‌دي، خود وه وارې یې ځان ضعیف شا ننته ولید او سریې ګنګس شو . دی له همدې وېر یده .

ویې ویل : « په دې وخت کښې چه کټ د و مره په نخر و رار و ان دی له ا نصا فه لیرې د ه چه مړ شم . خدا ی د ې ر ا سر ه مل شي چه و ر ته پا تې نشم . سل وارې به‌زمونږ په مقدس پلاراو شل وارې به په سپیڅلې مړ یمې در ود ووایم خواوس‌بې ویلی نشم . »

فکریې و کړ زوړ سړ یه‌لوړه و کړه‌چه‌بیابه یې‌وا یې .

په‌همدې وخت کښې یې‌په مز ی کښې یوټکان ولید. داټکان ډېردرونداوزغردو .

فکریې و کړ کب‌سیم په نیبنووهی . زه‌یو هیڅم چه اخر به همد اسې کو ی . غریب ګوتې بله چاره نه‌لري . اوس به نوخیز کړی خوزه غواړم چه‌دې دخیز په ځای خپله دوره ووهی خودا خیز ونه ده تـه ضروردی چـه لبز ه هوا واخلی خو په‌هر خیزد چنګک خوله خلاصیږي اوویرېږم چه یووارېی له‌خولې‌ونه‌و ځـی .

ویې ویل: « کبه‌خیزمه وهه ـ خیز مه و هـه . »

کب ځووارې سیم ووهه او هر و اریې چه سر خوزاوه زاړ ه سړ ی مز ی لږ ور غزا وه .

« با ید کب پرې‌نږدم چه ځان ډېرژوبل کړی . ماته درد فرق نه کوی خـو که‌دی ژوبل شي ځان نشي ساتلی لیو نی کېږ ی . »

پس له څو شیبو کب غلی شوا و نور یې سیم نه‌واهه او ورو ، وروبې به‌دورې پیښه‌و کړه . زاړه سړی اوس‌مزی په‌اسانه کشکوده‌خوبیا وربانديې ضعف راغی .

ACKU

په کیڼې لپې یې دسنید او به واخیستې او پخپل سریې تویې کړې. نورې او به یې په سرتویې کړې او په لاس یې خپل ورمېږ کرار کرار وموښه.

وې ویل: «زه تنکړه یم او کب به زر را ووځی. ګوندې ځان ورته کلک کړم. زړه سړیه واردې خطا نشې. هیڅ یې مه د ربه یادوه.»

لیندۍ ته نژدې یې ګونډه ووهله او یوه شیبه یې مزی بېرته په اوږ وتیر کړ. فکر یې وکړ زه به اوس کرار کرار ښیینم پرېږده چه دی دورې وهی بیا به نو وروسته ودرېږم او په راښکلو به یې بیا پیل وکړم.

زاړه سړی ته بده ښکاریده چه کب دوری کوی او دی له موقع څخه استفاده نه کوی او کب نه را کاږی خو چه دی دخپلې اوږې له مزي پوه شو چه کب دماکو خواته روان دی نو پاځید او مزی یې کرار کرار راښکه. مزی دده د هرکش سره په اسانۍ ماکو ته ننووت.

فکر یې وکړ هیڅکله زه دومره نه وم ستړی شوی. اوس نو تجارتی باد ونه الوځی. ښه دی کب به په اسانه ساحل ته ورسوم. تجارتی باد و نه ښه ملګری دی.

وې ویل: «بل وارې چه کب ددورې لیرې برخه وهی زه به بیا لږه دمه وکړم. په دویمې یادریمې دوری کښې به یې لاندې باسم.

مزرینه خولی یې دسر شاته بېرته وهلې وه او ورو ورو ماکو ته تیت شو او لیندۍ ته یې تکیه وکړه.

فکر یې وکړ پوهېږې که نه کبه چه بېرته را ګرځې ګیر به دې کړم. دسیند او به را جګی شوې وی، خو دا یوائې دیوه ګلالی نسیم اثر وا و زاړه سړی ته دا نسیم ساحل ته د تاو دپار ضرور و.

وې ویل: «دماکو مخ به جنوب غرب خواته واړوم نو ر نو نه ورکېږم. په سیند کښې سړی لا ر نه غلطوی.»

په دریمې دورې کښې زاړه سړی کب ولید. لکه تور سیوری دماکو له لاندې

ACKU

تیر شو او ښایسته پر وخت تېر شوه او پسې تیریده . زوړ سړی یې اوږ دوالی ته هلك پك پاتې شو .

ویې ویل: « نه هیڅ امکان نه لري چه دومره دې او ږ د وي »

خو کب هماغومره او ږداولوی وا او کوم وخت چه ددوري په اخر کښې شل گزه له ماکولرې داو بوسر ته راوخوت زاړه سړي یې لکیدداو بود پاسه ولیده چه لوی لاره نه هم جگه وه اولو نګو رنگ یې لاره . کب داو بوسر ته نژدې لا مبو وهله او زاړه سړي یې پلنې ښې او چنیا یې لیدلې .مخکینې پلنې ښې یې په او بو غوړیدلې وې .

زاړه سړي یې ستر گې هم ولیدې اودوه زاړه کبان یې گر چاپیر تا و یدل . کله به یې ځانو نه لیرې کړل او کله به یې ده پسې ځانو نه ونښلو ل . کله به یې کرار کرار دده په سیوري کښې لامبو وهله .هر کب دري فو ته اوږدواو دلامبو په وخت کښې به یې ځانو نه لکه غیشې داسې اوږ ده کړل . زوړ سړی په خولو کښې ډوب ؤ، خو نه دلمر له لاسه بلکه هرواري به چه کب دما کو خواته راته ده به مزی کش کړ زوړ سړی پوهیده چه په دوو دورو کښې به دنږدې اودشلگي وخت راشي . فکر یې و کړ خو باید ښه یې نژدې را ولم اوډېر نژدې ئې دي . شلگې یې باید په سر برابر نه کړم بایدزړه یې مـوخـه کـړ م .

ویې ویل:« زړه سړیه پام کوه چه ځان بای نلې اوتکړه او سې »

په بلې دورې کښې د کب شاله او بورا ووتله خو له ما کو لبز لیري و . په بلی دورې کښې بیاهم لیري و، خود اوارله او بو جگ راوتلی واوزوړ سړی پوهیده چه کـه مزی لبز نور هم را کاږي دما کواړخ ته به یې راولـی.

لادو خته یې خپل شلگې تیار کړی و . دشلگې یوسر په یوه ړې پورې تړلې و او دېړې کړی دلیندې لاندې په تو کړی کښې پر تـه و ه . د کړي اخر سر په ما کو پورې کلك غوټه شوی و .

کب په خپلې دورې کې دما کو خواته روان و . څیره یې لا گلالی ښکار یده او په کرار کرار یې لامبو وهله او یوائې پلنه لکۍ ښور یده . زاړه سړي مزی به

ډېر زور کښ کړ چه راښکته کړي . کټ ته را نږدې شو، خو بيا يې مخ واړاوه او بله دوره يې شروع کړه .

زاړه سړي ويل: «وخوړې شپوراړه اخرمې وشپور اوه .»

بيا يې په وجود ضعف راغی خو په ډېر طاقت ئې په مزی زورا چولی و. فکر يې وکړ وخوړې شپوراوه. ګوندې په دې واری لاندې باسم. لاسونو را کاږي پښو ځانو نه ټينګ کړي زماد پاره ځانونه تکړه وساتي، سره ځان تکړه ساته تا خو هيڅکله ما سره ناځوانی نده کړې داپلابه يې راو لم .

خو چه داپلابې د کټ په را ګرځېدو حېل ډېر زور په مزی و اچاوه کټ بيا مخ ترې واړاوه او بله دوره يې شروع کړه .

ويې ويل: « کېږه اخر خو به مر ګ ته اړشي . زما مرګ ته دې هم ملا تړلې ده».

فکر يې و کړ په دې صورت به دې لو يې نه هيڅ شی جوړ نشي .خوله يې ډېره وچه وه او غبرګېدی نشو، خوا و بوته هم ور ګوزېدی نشو چه خوله لمده کړي .

فکر يې و کړ بايد داواريې نږدې راولم .خدای زده چه د نورو دورو طاقت يې ولرم.

ځانته يې وويل: «زړه سړيه ته ډېر طاقت لرې . ته د قيامته پورې طاقت لرې .»

په بلې دورې کښې يې کټ نږدې لاندې ايستلی و، خو بيرته يې ځان سم کړاو کرار کرار يې بله دوره پيل کړه.

فکر يې و کړ کېږه نه لګه چه ماوژني خو حق لرې. ورزه تر تامې په درست عمر کې ښايسته ګلالي او غټ شی نده ليدلی، نو راځه مړ مې کړه خدای که به مې چرت خراب وی چه څوك مړه کوي . فکر يې وکړ زړه سړيه لکه چه سر دې ګرځي . اېلتی وايي . ماغزه تکړه ساته اودمېړه په شان يې زغمه .

يا د کټ په شان. په داسې غزچه يې به ډېره سختي او رېده .

وئې ويل: « سره تکړه شه . تکړه شه . »

دوې نورې دورې هم تيرې شوې .

فکر يې وکړ زه نه پوهيږم . دوه ځلی نږدی و چه ان په ما کو کښې ننوځي.

زه نه پوهېږم . چه څنګه چلېږي خو یو بل واري به هم زور واچوم بل وار یې به مزی
دومره زور واچاوه چه نژدې ودې پخپله ورسره پرېوځي خو پام یې شو چه مزی
د کب سره راځي خو کب بیرته ځان سم کړ او به کراره یې په بلې دورې پیل وکړ .
پلنه لکۍ یې په هوا کښې رپېده . زاړه سړي ځان ته ډاډ ورکړ یو بل وار به یې
راکاږم . لاسونه یې سست سست کېدل او د ستر ګو تر مخ یې را نه ټکی ځلیدل .
بیا یې مزی کش کړ خو کب لکه پخوا په کراره لیرې لاړ . نو په فکر کښې ډوب شو
او ورو ، ورو ماکو ته ټیټېده تر څو چه پرېوتو ته نژدې شو بیا یې ځان سره وویل:

« یو بل واري به یې را کاږم . »

خپل ټول همغه زور یې چه ور پاتی و په مزی واچاوه او ټوله پخوانۍ اراده یې
سره غونډه کړه او مزی یې پخپل ټول موجودیت را ښکه . کب ورو ، ورو
دماکو خوا ته راغی او دماکو اړخ ته ورسید . دومره نژدې شو چه د اړخ ښې
نژدې نژدې دماکو په دېوا له لګیدې او دماکو څخه ورو ، ورو تیرېده ، پلن اوږد
وجود یې لکه سپین سو چه زر داسی و . د اړخو چنیا لیکی یې نیمایی په اوبو کښې
پټې وې .

زاړه سړي مزی له لاسه وغورځاوه او پښه یې ور باندې کیښوده . شلګی یې
په لاسو له سره جګه کړه او په ټول قوت یې د کب په اړخ د ښو ترشا ومانده .
د کب د اړخ ښې د بنیادم د قد هومره جګې وې . زاړه سړي د شلګی د سر اوسپنه
ولیده چه په کب ننوته . پخپل ټول زور یې په شلګی تکیه وکړه او نور یې هم
په کب کښې ننه ایست . ځان یې نور هم شلګی ته تکیه کړ .

کب را ژوندی شو او پخپل ټول اوږد او پرېړ وجود یې له اوبو پاس خیز کړه .
دومره جګ یې خیز کړه چه له ماکو او زاړه سړي د واړو نه جګ شو ، بیا
نو په داسی شرپهار بیرته اوبو ته ولوید چه اوبه یې ان په ماکو کښې د زاړه سړي
په ټول وجود و پاشلې .

په زاړه سړي د ضعف حالت را غلی و او ستر ګو یې هم ښه لید نه کاوه ،

ACKU

خو په همدې حالت کښې یې د شلګۍ مزې صاف کړ او پرې یې ښو د چه د کب د تګ سره کرار کرار وغزېږي.

کوم وخت چه یې ستر ګو لید و کړ نو یې کتل چه کب په شا په او بو بروت دی او سپنه خېټه یې پاس ده. د شلګۍ ډا نګ یې په اړخ کښې نیغ ولاړ و او د سنید او به د کب په وینو رنګینې کېدې. لو مړی داو بنې په شنو او بو کښې تو رې ښکا رېدې. ورو سته نو لکه د آسمان وریځې خورې شوې ه ښځېله کب د سپینو زرو په رنګ یې حر کته د سیند د څپو په سر روان و.

زاړه سړی په هغو مره لیدچه ورته پاتې و د کب خوا ته کتل. بیایې د شلګۍ مزی له لندې تاو کړ او سر یې په دوا ړو لاسو کېښود.

«خدایه! زما ما غزه ویښ کړه زه یو ستړی ستوماته بوډا یم، خو کب مې وواژه. اوس مې نود کارسخته برخه پیل کېږي.

فکر یې و کړ اوس نو باید پړی ورته تیار کړم چه دما کو څنګ ته یې راولم. که هلك را سره وای او دواړو ما کو ته څېژولی وای بیاهم به ما کو کښې نه ځایېده. هرشی باید ورته له اوله تیا کړم بیایې را کاږم او ما کو پوری یې وتړم. بیا به نود بادوان ډانګه لکه کړم او بادوان ور پوری وتړم او کرار کرار ساحل ته روان شم.

کب یې د ما کو خوا ته کش کړ چه پړی یې د غوږ وله سوری و تیر کړی او له خولې یې و باسی او بیا یې د ما کو پوري وتړي.

فکر یې و کړ غواړم چه بوواربې په ما ړه نس و ګورم او لاس ور باندې تیر کړم. کوم وخت مې چه دویمه پلا په شلګۍ زور وا چاوه ګومان کوم چه د ده د زړه غبږمې او رېده. اوس یې را و له او سوټ پوټ یې وتړه بیا یې لکۍ هم غو ته کړه او سر او لکۍ د دواړه په ما کو پوري کلك وتړه.

ځانته یې وویل: «زړه سړیه پیل و کړه.» یو غوړپ اوبه یې و څکلې. اوس یې چه جګړه ختمه شوی وه د کار درنه برخه پیل کیده.

اسمان ته یې و کتل او بیایې کب ته ستر ګې واړولې. فکر یې و کړ لاغرمه ده

ACKU

او موسمي بادونه الګېږي . نور مزي به اوس پرېږدم وروسته چه کاله ته ورسېږم
زه او هلك به يې پاك کړو .

وېي ويل : « کېږه نوراځه . » خو کب رانغی او هماغسې د څپو د پاسه پروت و .
نو زاړه سړي ماکوور وو ست .

کوم وخت چه ماکوور سره څنګ په څنګ شو او د کب سرلينديي ته برابر شو
زاړه سړي بې په دومره اوږدوالي هيڅ باور رانغی . د شلګي پړي بې له ماکو پرانيست
د کب له غوږ وېي تير کړ او سر يې د پړي په بل سرو تاړه او د لينديي پوري بې غوټه کړ .
بيا يې پړي پرې کړ او د لکۍ خوا ته ولاړ . کب اوس د خپل پخواني څېيار نګه
سپين اوښتی و ، خو پټې يې لاهم اسماني رنګه وې . هره ليکه د ښيا د م تر اوږشتي
پلنه وه او سترګي يې داسې ليري او اسرارا ميزه ښکارېدې لکه چه د يوه مقدس
سړي سترګې د تفکر او مراقبې په حال کښې ښکار ي .

وېي ويل : « دوژلو يوا ځيني چل يې همدا و چه ماو کړ . »

له او بو څکلو وروسته تر پخوا ښه شو او پوه شو چه اوس نو نه پا تې کېږ ي .
ماغزه يې هم ښه و .

فکر يې وکړ داسې ښکاري چه تر يو نيم زرو منو هم دروند وي . ښه که له درو برخو
دوه برخې غوښې وي او هر پاو په ديرش پيسې خرڅ شي . وېي ويل « دي دپاره مې
قلم او کاغذ په کار دي . ماغزه مې دومره کار نه کوي خو فکر کوي چه ستر ډيماکو به
نن په ما وياړ ي . ما په عمر کښې د هډو کي خنډ نه دی ليدلی خو لاسونه او ډډي مې
په رښتيا خوږ يږ ي . » فکر يې وکړ د هډو کي په خوند نه پوهيږم چه څنګه به وي .
څوك څه پو هيږ ي مونږ ته ول به يې اروخو نه به وربانده پوهيږو . د کب سر ،
ملا او لکۍ يې په ماکو پوري و تړل . دومره ستر و لکه چه سړي د ماکو پوري بل
ډېر ستر ماکو وتړي . د پړي بله تړانګه يې پرې کړه او د کب له خولې يې چاپيره کړه .
د کب خوله چه تړ لې وي ماکو به اسانه لار کوي . بيا يې د باد وان ډانګه
لکه کړه او پيوندي بادوان يې ور پورې وتاړه او ور سره يې ماکو په تګ پيل و کړ .

ACKU

زوړ سړی نیم په ماکوپریوت او دماکومخه یې دجنوب لوید یخ خواته کړه.

دجنوب لوید یخ دموندلو دپاره یې قطب نماپه کار نه واو پخپله موسمی بادوان اړ دبادوان راښکاره سو. فکر یې وکړ چه به داوي چه یوه وړه چنګک او بوته وځړوم چه د خوراك دپاره كوم كب په کښې ګیر کړم خو مزي یې پیدا نشو کړای، نو کوم وخت چه ماکولار کوله ده په لاس دسیند لوخې و شکولې او خپل ځنګ ته به دړې یې و ځنډل. له او خې وړې وړې خزندې توبی شوې. زاړه سړي یې دشهادت په ګوتې سرونه و سکوندل او خولې ته یې وا چول او دپوستکي او لکېد سره یې ژدویل. دا خزندې ډیرې وړې وې خودي پوهیده چه ښه خوند یې کاوه او څه قوت هم په کښې و. په بوتل کښې د دوو وارو ښکلو دپاره او به پاتې وې. وروسته دخزندو له خوړ لو یې دیوه خوراك نیمایي برخه او به و ښکلې. ماکو ښه لار کوله او زاړه سړي په چپو لارورته تا کله. کب یې لیده او دلاسو او ازو له درده پوهیده چه ویده نه دی. دکب دراښکلو په یوه وخت کښې یې حال دومره خراب و چه یو ځل یې دځانه سره وویل چه خوب به ګوري. بیا یې چه کب ولید چه له او بو ووت ایله یې یقین شو چه کوم عجیب شي ګوري او هیڅ یې په کب باور نه راته. بیا یې نو ستر ګی له لیدو پاتې شوې خو اوس یې لکه پخوا داسې روښانه لید کولی شو.

اوس پوهیده چه کب ور سره دی او لاسونه او ډډې یې ویده نه دی.

فکر یې وکړ لاسونه ژر بیرته رغیبزي. ماتوك کړاو دسیند مالګینی او به به یې جوړې کړي. دبحر داتروی او به دلاسو دپاره تر هر شي ښه دارو دی. اوس مې یوا ځینې وظیفه داده چه خپل ماغزه صاف و ساتم. لاسونو خپل کار کړی او ماکو پخپله لار سم روان دی. دکب خوله تړلې او لکېد یې، نیغه ولاړه ده او زه او کب دواړه لکه دوه وروڼه ساحل ته روان یو.

په ماغزو یې بیله ګډوډي راغله او فکر یې وکړ زه کب ساحل ته بیایم که

ACKU

ګب ما بيايي که مي ګب د ماګو شاته تږلی وی، خو هيڅ خبر نه وه . که به ماګو کښی پروت وای بيا هم هيڅ خبر نه وه خود واړه ښنګ په ښنګ روان وو او زاړه سرې فکر کاوه خير دی که دی خوشالیږي دی دې هـا بيايي. زه تش په غولولو کښی تړده تکړه یم او ده غريب ګوتي‌ماته د زيان رسولو هيڅ نيت نه لاره .

ماګو روان و . زاړه سړی لاسونه دسینه په ماتګيڼو او بو کښی ننه ايستل او زيار یی ايست چه ماغزه صاف و ساتي . پاس بی به سرد تو رو ورېځو شلی او دسپينو ورېځو کړی ګرځيدي او دی پوهيده چه موسمي باد به در ستنه شپه چلېږي . شيبه په شيبه یی ګب ته کتل چه باور یی پرې راشي . دا نو یو ساعت دشارك دحملې له پيله پخو او .

دشارك حمله تصادفي شي نه و . شارك د او بو له ډېر ژور ځای نه هغه وخت د ګب دلتون پسی را وتلی و چه د ګب وينی په‌او بو کښی خورې شوې وې . په ډېر زغرد پاس دشنو او بو سرته را و خوت او بيا بيرته په او بو ننووت او د وينی له بو یه یی د ګب دتلو لار بيا مونده او د ما ګو په لور را شيله شو .

کله به يې د ګب وی ورك کړ خو بيا به يی لاروور برابره کړه . په ډېر زغرد او چټکی یی لامبو وهله . دانو داسی یو شارك و چه ډېر چټك ګب نه هم چټك و . دشارك وجود هر اندام ګلالی و چپ د ده له داړو . شا یی اسمانی رنګه وه او خېټه یی دسپينو زرو په رنګه . پوستکی یی ښوی او ګلالی و . په چټکی روان و او داړی یی بو په بل کلکی کړی وي . داو بو له سره لېږيت و او دشا ښو یی یی له دی چه و ښور یېږی دسینه تووری او په شيرولي . دد واړو تړلو شونډو دننه یی آ نه‌ط ارو ه غاښونه وو چه تول د ننه خواته کاږه وو . د ده غاښونه دنورو عادی شارکانو دغاښو په‌ځير نه‌وو بلکه‌د بنياد ماتو په‌ځير د ګوتوغونډي وچه‌دځه‌ښي د نيولو دپاره د اکه

منګولې داسې ګڼړي شي . هرغاښ يې دزاڼره سرې د ګوتې په اندازه اوږ دواودوا ړه خواوي يې لکه دزيږي دپاکي تيغ دومره تيرې وي . داسې ماهي وچه دسينه په تراو ګڼانو زور زرو . هغه ګڼان يې خوړل چه دومره په قوي او چټك وو چه په ټول سينه کښې به دبل دښمن لاس ور باندې نه بر کيده .

اوس نود کب د ديني وږمو بسې رو ان و اودشاپه اسمانې ډو يې د سپينه او په څپر واې .

ګوم وخت چه شارك درانګ په حال کښې واېد بوه شرچه داسې شارك دې چه له هيڅ شې وېره نه کوي او هرڅه چه بې زړه غواړي ګوي يې .

شلګي يې تيار کړ او ټپرې يې په ما کو بورې کلك وتاړه اودشارك راتګ يې څاره . ډېرې لنډ وځکه چه داړه برخه يې ترې ېرې کړې او کب يې ور باندې تړلی و .

دزاړه سړي ماغزه اوس صاف واودې خپله له ارادې ډك وخو چند يسانې اميد بې نه لاره . فکر يې وکړ کب ډير ګلالي دې اوخدازده چه سلامت ور سره بزي . چه شارك کب ته ژدې شو زاړه سړي کب ته وکتل .

فکر يې وکړ په وهلو خومې وهې خودې به هم ژوندې رانه خلاص نشي . شار که په مور ژدې نالت شه .

شارك په زغرد په کب غوته وکړه او زاړه سړې بې پرا نيستلې داړې او عجيبې ستر ګې وايدې . چه شارك د کب دلګېد نه ابز وربر خپلې داړې خښې کړې دغا ښو خربابې زاړه سړې واور پده . دشارك سر له او بو اوچت و اوشايې اوس راو تله . زاړه سړي د کب دپوست او غوښې دڅيرې کيد واوشکيد وخر پهار او رېده . په همدې وخت کښې يې شلګي دسر په نيمايي برابر ددواړ وستر ګود مينځ په ليکې ورو مانېه . په هغه ځاى يې دشلګي ګذار وکړ چه دستر ګود مينځ ليکه دهغې پوزې سره يوځاى کېده چه له پوزې يې دسر تر کو پړې تللې وه . زاړه سړې ته دې ليکو بله معنى نه لرله بوا ځې دشارك تور بخون اسمانې رنګه سر او غټې ستر ګې اودغوښې خربهار او لو يې داړې وې چه ده نښه کړې و . دشارك ماغزه په همدې ځاى کښې وچه زاړه سړي

ACKU

پري ګذارو کړ . په‌مغرولاسو چه‌ويښي پګښي ټکي‌ټکي غوټه‌شوي‌وي‌به ټول قوت‌يي تيره شلګي د شارك په سررا خوشي کړ . زاړه سړي به خپل وار باور نه لاره خواراده اوپوره مهارت له‌ورايه په ګښي ښکار يده .

شارك په اړخ و اوښت اوزاړه سړي وليده چه‌په سترګو ګښي يي دژوند نښي نه‌وي. شارك‌په‌بل اړخ ورغښت. زوړ سړي‌پوهيده چه‌مړدي خوده نه منل . او بيايي نولکه زغر دما کوبه شابه اوبو ګښي منډه واخيسته . لکه‌د بي لکه مترو که دې خوا ها خوا خوزيده او داړي يي يو په بل لګيدي . په هغه ځاى ګښي چه دده لکه‌د تر پيده او به سپيني وي او دو جود دري، بر خي بي داد بو دپاسه وي . شارك لبزه شيبه همدا سي غلي داو بود پاسه پروت واو زاړه سړي ورته کتل . بيا نو په کرار کرار ډوب شو .

زاړه سړي وويل: «دوه نيم منه يي تري يووړه . » فکر يي وکړ زما شلګي او درسته رسه‌د يي هم يووړه . اوس به بيا کب وينې تو يوي او درست نور شارکان به را خبر پېږي .

نوړه يي نه کيده چه دکب پلو ته وګوري ځکه چه نيمګړي وي. ګوم وخت چه شارك حمله کړه او له ده ته داسي ښکاره شوه لکه چه په ده يي شو ته. کړې وي .

فکر يي وکړ ده‌چه زما په کب حمله وکړه ماهم ووهله . داشارك دټولو هغو نورو ناټو لوي‌وچه‌ما تراوسه ليدلي دي اوخداى خو پوهيږي چه‌ما په‌ژوند انه ګښي ډيرلوى شارګان ليدلي دي.

فکريي وکړماويل: چه کب ډير ګلالي دې اوروغ‌نه رسيږي . کاشکې خوب واى‌او کاشکي مې هيڅ نه‌واى نيولي او کرار يواځي په‌خپل کټ ګښي پروت واى ورخپاني مې کتلي .

ويي ويل: « خوبنيادم دماتي دپاره نه‌دي هست‌شوي. بنيادم محو کيداى شي خومغلو بيدي نشي . »

فکريي وکړ ډير خپه‌يم چه‌ولي مې کب وواژه . اوس‌يي نو ناګاره وختونه

ACKU

راځي او شلګی قدري هم را سره نشته . داوور نالتي ډير ظالمان دي. قوي او هوښيار او ماهر هم دي. خوزه تر دغه شارك هوښيار وم يا به تش د ومره وه چه ما تر دښمنه وسله لرله . »

په جنګ غږ يې وويل: « زه سړيه فکر مه وهه . ماکو سيخ د ساحل خواته بيايه او هرڅه چه در پېښېږده ګوله يي . »

فکر يې وکړ خو عجبو ړيم چه فکر وکړم . په دې ستي نږدې کښې يو اځي هم دا يو کب لرم . يو کب او يود بيسبال او به . نه پوهېږم چه کشتر ډيما ګوزه د شارك د وهلو په حال کښې ليدلي واي څومره به خوشاله شوي و . څالوي کار خونه و هرچا کولی شو خوايا فکر کوي چه زما لاسونو دومره ټکه ډيما ګود وهلو کو خند د ومره سوي کاره زه خو نشم پوهېدلای ځکه چه هېڅکله مې پو نه دي درد نه دي کړي چپ له يوه واره چه په لاسونو کښې مې په يوه زهراو نکي خزندې پښه برابره شوه او په پوندې يې وچيچلم . تو له پښه مې ورسره د کاره ولوېده او داسې سوي يې کاوه چه نه مې شو زغملی .

وبې ويل: « زه سړيه باداسې شي فکر وکړه چه زړه دې ښه شي . نه ګورې چه هره شېبه کاله ته نږدې کېږي . څلوېښت بو نه هم سپك شوي او اوس به ما ګو به اسانۍ چلوي . »

زوړ سړی ښه پوهېده چه کوم وخت چه د جريان سره ګډ شي د ځه بلاسره به بې سر شي خو اوس يې هيڅ تياري نشو ورته کړای .

وبې ويل « زه لا تياري ورته نيولی نشم . خپله چاړه به د چپې په څوکه وتړم . »

نودې چاړه په چپې پورې وتړله .

وبې ويل : « اوس نو لاهم هماغه پخوانی زوړ سړی يم خو بې وسلې نه يم . »

د سيند تانده وږمه الګېده او ده ګرار ګرار ما کو پورې واهه . يو اځی يې د کب مخ کښې د خواته ګتل او زړه يې ابز ډاډه شو . فکر يې وکړ نا اميدي ډېره ګناه کاره ده او زه وايم چه ګناه به هم وي . فکر يې وکړ د ګناه په باب فکر مه کوه به څخ ګڼې دي بې له ګناه هم ډېر شيان شته چه فکر ورباندې وکړې او بله دا چه زه

چندیانی نه پوهیږم چه ګناه څه شی ته وایی او عقیده هم ور باندی نه لرم. شاید چه دا به ما ګناه کړې وی چه کله می وواږه. که څه هم ما کله د دې دپاره مړ کړ چه ځان ژوندی وساتم او ډیر خلک ما مړه کړه خو بیا به هم د کله په وژلو ما ګناه کړې وی. که داسی وی نو هرشی ګناه دی. فکر و ور باندی مه کوه زړه سړیه اوس کار له کاوه تیر دی او داسی خلک هم شته چه دوی ته د ګناه کولو دپاره پیسی ملی کیږی.

پرهیز ده چه هغوی په ګناه فکر و کړی. ده داسی چه کله پیدا شوی ته هم کله نیوونکی پیدا شوی یی. سان پیدو رو هم کله نیوونکی واو د ستر ډیما ګو پلار هم کله نیوونکی و.

خو دزاړه سړی خو شیدو چه د خپل محیط په هرشی فکر و کړی او څنګه چه نه ور ځپانه ور سره و اونه یی راد بوار له ټو یی ډیر فکر کاوه او ګناه یی پا فکر کښی اړوله راړوله. فکر یی کاوه. تا کله د دی دپاره و نه واژه چه ځان ژوندی وساتی او خلک ماړه کړی بلکه ده یې ځانی د شودلو دپاره او دی دپاره دی و واژه چه کله نیوونکی یی. ژوندی چه و در باندی ګران واو چه مړ دی کړیا هم در باندی ګران نو چه دومره در باندی ګران وی نو وژل به یی ګناه نه وی او که څنګه.

په جګ غږ یی وویل: « زړه سړیه ډیر فکر مه کوه. »

فکر یی و کړ خود مور نالتی شارک په وژلو بد شه خوشاله شوی دی هم د تا په شان په ژوندی کله ژوند کوی. دی لکه د نور و شار کانو غوندی د ځان دمړولو پسی نه دی. تر ټولو شایسته او اصیل دی او دار نه پیژ نی.

ویی ویل: « د ځان د ساتنی دپاره می مړ کړ او په ډیره شه وجه می مړ کړ. »

فکر یی و کړ هرشی په یو ډول یا بل ډول بل شی وژ نی. کله نیول همداسی چه ما ژوندی ساتی همداسی می وژنی هم. فکر یی و کړ باید ډیر ځان و نه غولوم. دما کو د ډی ته یی تکیه و کړه او لاس یی تیر کړ بوه ټوټه چه غوښه یی له هغه ځایه و شکوله چه شارک خیرلی وه. ویی ژول یله او د غوښی شه خو ند ته یی پام شو. د نورو غوښو غوندې کلکه او شیره لرونکی وه خو رنګ یی د نورو غوښو په شان

ACKU

سور نه . ريښې او بلې بې نه لرلې او دي پوهېده چه په بازار کښې به په ډېره جګړه بيه خرڅه شي . خو اوس بې هيڅ چاره نلرله چه د کب بوی له او بوورڅ کړي او پوهېده چه ډېر خراب وخت په مخ کښې دی .

د سيند وږمه په يوه کراره او د شمال مخه لږه نوره هم ختيځ خواته شوې وه او زوړ سړی له دې پوهېده چه شمال به دومره ژر ونه درېږي . وړاندې يې وکتل خو د سيند په مخ د بل هيڅ ماکو بادوان نه ليدل کېده او نه يې د کومې بېړۍ سټنې او لوګی ليدل . يوازې الوتونکي کبان و وچه د ماکو چار چاپېر الوتل او د بحري روډونوزيړې تړانګې وې . د سيند په مخ نور هيڅ نه ليدل کېده او حتى په درست اسمان کښې يو مارغه هم نه و .

دوه ساعته يې لار وهله و هاو د ماکو ډېرتې يې تکيه کړې وه او کله کله به يې د مارلين يوه ټوټه غوښه وژ دويله . زيار يې ايست چه دمه وکړي او ځان تکړه وساتي . په همدې وخت کښې يې د دوو شارکانو څخه يو وليد .

په جګ غږ يې وويل: «اخ» . داخ د پاره ترجمه نشته او شايې چه تش يو غږ وي چه سړی يې هغه وخت يې ارادې له ستوني باسي چه ميخ يې په لاس ور ننو ځي او له ها بلې خوايې ووځي او په لرګي ننو ځي .

په جګ غږ يې وويل: «اى حرامونو» . اوس يې د دويم شارک د شا بڼې هم وليدې چه د اوږې پسې روان وو . د دې اړخيزې بڼې له تور بخون رنګه يې پوه شو چه دا د هغو شارکانو څخه دي چه ور بوزونه يې لکه د يامه ډېر کې غوندې دي .

بوی يې تر سپيز هغو شوی و او ډېر په زغرديسی لا مهو و هله . دلوږې په بېړې کښې به يې کله کله لار غلطه کړه خو سره له دې ټولې وارخطايۍ بيا هم هره شيبه کب ته نږدې کېدل . زاړه سړی د بادوان پوڅکه په ماکو پورې وتړله او هغه چپه يې راجګه کړه چه چاړه يې په سر پورې تړلې وه چپه يې دروجګه کړه ځکه چه لاس يې سوی کاوه . بيا يې د لاس وخپرې پرانيستلې او ويې تړلې چه لږې پسته شي . بيا يې نو د چپې لاستې په دواړو لاسو

ګډلک وئیو چه دوهلو په وخت ګېډۍ یی لاس وربانده و نه شو ښویږی او دښار ګانو
راتګ یی څاره او سرېی ددوارو ښار ګانو سوررور چیت اودیامه غونډی تېر ه‌سر رانه
اودار خوبلنی سپینی بڼی ایدی شوی. داډیره ګر ګجن ښار ګان و چه هم بی و ینه
شکله اوهم بی ګب مرګاوه اوچه وژی به وبه چیواودماکو په درو به بی هم خو له
لګوله همدغه ښار ګان وو چه دسیندد ګښپ پښی به یی هغه وخت غوڅولې چه کښېاڼ به
دسیند په سرو یده وو . په تیرو داړوبه بی ښنی تری بیا تی ګړی . آو هما غسی به
داو.و لاندی ورک شول دلوزی په وخت ګېډۍ به یی په هغوبنیا دمانو هم حملې کولی
چه په اوبو ګېډۍ به یی څه‌شی پسی لاهوکوله ، په روغو ښپا دمانو به یی حملې کولې
چه نه به یی ګوم ځای زخمی‌واونه به یی په وینو ککړو ،

وېی ویل: داخ حرامونوراځی ، حرامونو .

دواړه راغلل خولکه پخوانی ښارک داسی تیغ رانه غلل . یو ښارک په‌ښاواووښت او
دماګولاندې له نظره پټ شو .دزاړه سړی دماکو تګان ته پام واوبوهیده چه ښارک
لګیادی له ګېډه کتری بیلوی ها بل ښارک په‌زیږو ستر ګوزاړه سړی ته وکتل
بیانو په‌خلاصو داړو په ګب ورسیخ شو اوپه هغه‌ځای یی داړی خښی کړې چیه پخوا
زخمی و .په‌تور بخون سراوښایی رنه لیکه ښکاریده زاړه سړی دچپی دسر چاړه
په هغه ځای ومنډله چه دملاتیردماغزوپوری ننبلی چاړه یی بیرته وایسته دښارک
دپښو غونډی زیږو ستو ګو ګېډۍ بی بیانیه ایستله .ښارک ګب خوښی ګړ او لاندی
وښو بیداودمرګ په حال ګېډۍ بی هم هغه غوښه‌له ستونی تیروله چه به خولی ګېډۍ یی وه
ما کو لا هم دها بل ښارک . شو ګی له لاسه اړزیده زاړه سړی د هادوان یوه
پیڅکه له ماکو خوښی کړه چه‌ماکو بوپلوشی اوښارک یی له لاندې ووځی دښار ک
په لیدوبی په‌ماکو تکیه‌و کړه اووبی واهه .

چاړه یی په غوښی برابره شوه . دښارک پوستکی بریږ وایله یسی دچړې څوکه به
ګېډۍ ننه ایسته . د ګذار دظرب په اثر دزاړه سړی لاس اواوږی وددریدی ښارک په
تندۍ سرله اوبوراوایست او ګوم وخت چه یی دروزله او بوراوچت شو زاړه سړی

ACKU

برابر د سر په مېنځ چاړه ور ننه ایستله . د چړې تېغ یې وایست او بیا یې بید و په هماغه لومړني ځای ننویست شارك لا هم په وازه خوله په کب پورې نښتی و بیا یې چاړه په کېډې ستر ګې ور ومنډله ، خو دی هماغسې د کب پورې نښتی و .

زاړه سړي وویل : « ننه مړ کیږي ، دا چاړه په ماغزو ور ومنډله - بیا یې چپې بل سر د شارك دداړو ترمینځ ومانده چه خوله سره بېرته کړي چه شارك کب خوشی کړ زاړه سړي وویل : « ورځه حرامو نیه یو میل ژور ځه ولاړ شه خپل ملګري و ګوره یا به دې ملګری ته وی مور به دې وی . »

د چړې تېغ یې پاك کړ او چپه یې په غولی کېښوده بادوان یې څکه ونیوله او ماکو یې په خپلې لاري سم کړ .

په ځنګ غبزیي وویل : « لکه چه د ښې غوښې ځلرمه برخه یې تري یو وړه . کاشکې خوب وای او کب مې هیڅ نه وای نیولی . کبه خپل کار ته ډېر خپه یم . هر څه رانه وران شو . »

غلی شو او نور یې نه غوښتل چه د کب خواته ستر ګې واړوي . په کب کښې هیڅ وینه نه وه پاتې او د هندا رې د شا غو ندې سپین ځلیده . بیا یې لا هم ښکاریدې . و یې ویل : « کبه ماته ښکا رنه وه چه دو مره لهساحله لرې را و تلی وای . نه د تا شوه او نه زما . کبه ډېر پښیمانه یم . » ځانته یې وویل : « اوس د چپې سر و ګوره چه مزي پرې شوي نه وي . بیا نو خپل لاسونه ورته تیار کړه ځکه چه نور لا راتلونکی دي . »

ګوم وخت چه یې د چپې سر وکوت او چاړه یې ولیدله چه کلکه وه .

و یې ویل : « کاشکې مې د چړې د پاره بیلو ار لی . بیلومې باید د ځانه سره راوړی وای . »

فکر یې وکړ ډېر شیان دي باید راوړي وای خو رادې نه وړل . اوس نو ددې وخت نه دی چه د هغو شیانو په برخه کې فکر وکړې چه درسره نشته . په هغو شیانو فکر وکړه چه درسره شته دي . »

په ځنګ غبزیي وویل : « ښه نصیحتونه راته کوې . ستاله ډېر و نصیحتونو موړ یم »

ACKU

ډانګه یې د تخرګ لاندې ونیوله او دواړه لاسونه یې په اوبو کښې غوټه کړل. ماکو د ساحل خوا ته روان و. ویې ویل: «خدای پوهیږي چه آخري شارک څومره لوی وه. خوښه دي ماکو اوس سپک شو.»

نه یې غوښتل چه د کب په زخمي نس فکرو کړي. پوهیده چه د ماکو هر ټکان د غوښې یوه تړانګه وه چه شارک له کبه بیلوله. په دې هم پوهیده چه کب اوس ټول شارکانو ته لکه عمومي سړک داسې په نښه و.

فکریې وکړ: داسې کب وچه یو سړي بې درست ژمی ساتلی شو. په دې فکر مه کوه زړه سړیه یوالځې دمه وکړه او زیار وباسه چه لاسونه دې پاتې برخې د ساتلو دپاره اماده وساتې. زما د لاس دوینو بوی اوس د دغه بوی په مخ کښې چه کب په سیند کښې خپور کړی دی هیڅ نه دی. داسې ځای مې ژوبل هم نه دی چه ډیر مهم وي. وینه لا شبه ده چه روانه ده. کیڼ لاس به لا شخید وته پرې نږدی.

فکریې وکړ: اوس په څه شي فکر کولی شم. هیڅ شي. په هیڅ شي باید فکر ونه کړم او دنورو راتګ ته وګورم. فکریې وکړ کاشکې رښتیا خوب وای. خو څوک څه خبر. کېدای شي چه په سلامت ساحل ته رسیدلی وای. بیا بل شارک چه راغی یو ا ځی و اوده هم دیامه غوندې ور یوز و.

د خنځیر په شان مخامخ راغی که څه خنځیر دومره لویه خوله لرلای چه د سړي سر په کښې ځاییدای. زاړه سړي شارک پریښود چه کب ووهي او بیا یې د چپې د سر چاړه په ماغزو ور ومنډله. خو شارک شاته ټکان وخوړ او په اړخ وا وښت او ورسره د چپې تیغ هم مات شو.

زاړه سړي ماکو چاولو ته ځان برابر کړ.

شارک ته یې هم ونه کتل چه ورو په اوبو کښې ډوبیده. او مړی لوی و بیا وړو کی شو او بیا د اوبو په تلا بحر کې ښکاریده. د زاړه سړي دا ننداره ډیره خوښه وه خو اوس یې ورته هیڅ و نه کتل.

وې ویل: «اوس نو دوه چپې او ډانګه او یو لنډه کې کوتک راته پاتې دي.» فکریې

وکړ شارکانو اخرمانۍ را کړه . زه یو بو ډاسې یم او شارك په ګوتك نشم وژلی خوتر څوچه داد واړه چې اوډانګه اوله ګوتك راسره شته کار به ترې اخلم .

لاسونه یې په او بو کښې غوټه کړل . لوړ ما سپښین کید ونکی واو زاړه سړی چپ ! اسمان او سینده بل هیڅ شی نه لیدل . شمال تر پخوا ډیرو او ده تمه اړ له څوړ به ساحل وګوری .

ویې ویل : « زړه سړیه سټړی یې هم ګوډ دی سټړی دی . ولی ځان غږ اوی ؟ »

ترلمر پریواتو پورې شار کانو نه واهه .

وروسته نو زاړه سړی تور بخو نې بڼی ولیدی چه دسیند په سر په هغې لار ې راروانې وی چه کب به او بو کښې جوړ وله . اوس یې حتی دبو نې لټو ن هم نه کاوه او څنګ په څنګ نیغ دما کو په اور روان وو .

ډانګه یې ودروله اودما کو په بادوان پیځکه یې ور پورې وتړ له او د کو تك پسې کوز شو . ګوتك دیوی چپې لاستی وچه دوه نیمې لویشتې له چپې اره شوی و . لاستی یې ووړ و ، نو یې یوائې په یوه لاس نیولی شو . په ښې لاس یې کلك و نیو او دشار کانو د راتګ څاریې کاوه .

فکر یې وکړ : باید یو پرېږدم چه کب ووهی او بیا یې په ور بوز یادسر په کو بړی ووهم .

دواړو شار کانو په زغرده حمله وکړه او چه یوه شارك په وازی خولی خپلی داړی د کب په اړخ ښخې کړی زاړه سړی ګوتك جګ کړ او دشارك په پلن سر یې راپرې ایست . دشارك ده و کو کلکوالی یې په لاس کښې حس کړ . بل وار یې کب په ور بوز وواهه او ور سره شارك له کبه ځ وزو ښوییده .

هابل شارك لګیاو کله به یې داړی ښخې کړی او کله به یې وایستی او اوس یې بیا غوټی ته خو له خلاصه کړه . زاړه سړی د کب د غو ښې سپینې کتر ې لیدی چه دشار ك دزامو له ګوټه تو ییدی . په همدې وخت کښې یې وواهه او وازه خوله یې ور باندی وتړله . ګو تك یې دسر دپا سه بیا وڅر خاوه او په سر یې وار ور کړ . شارك ور ته وکتل او دغوښې بله کتره یې بیله کړه . بیا یې ګوتك تاو کړ او و یې واهه . شارك

د تېښتې په حال کښې و چه کو تك يې په سر برابر شو .

وبې ویل : « راځه حرامو نیه بیا حمله وکړه . »

شارك په تونديې بیا حمله وکړه او زاړه سړي په هغه وخت کښې وواهه چه داړې یې سره وروستې داوارې په زورو واهه او کوتك یې له ډېره جګه پورې راپورې ایست . دوهم ریې کلك وواهه چه د شارك د سر د هډو کې کلکوالۍ یې په لاس کښې حس کړ او بیا واري یې په داسې حال کښې وواهه چه شارك غوښه شکولې وه . ددې وار سره له کبه کوز او پوته وښوییده .

زاړه سړي بې ځاره کاوه چه بیابه راشي خو هیڅ یو را ښکاره نشو . وروسته یې یو دا وبو په سر ولید چه په ځای کښې چورلیده . د هغه بل د شا پټکی یې و نه لیده ی .

فکر یې وکړ : د ځانه مې د ومره تمه نه وه چه به کو تك به یې وژلی شم . په څوانۍ کښې مې دا کار کولی شو . اوس مې هم دواړه سخت ژوبل کړي او د هیڅ یوه حال ښه نه دی . یاره که مې کو تك په دواړو لاسو نیولی شوای ، په دې زاړه ځان به مې هم هالو مړ نی شارك وژلی شو . نه یې غوښتل چه د کب خوانه وګوري . پوهېده چه نیما یې فیصله شوې دی . دې د شار کانو سره په جګړې بوخت و چه لمر پریو تی و .

ویې ویل : « زر به تیاره شي ، د هوا رڼا به وګورم . که ډېر د ختیځ خواته یم ، او د نور وساحلو رڼا به وګورم . »

فکر یې وکړ : اوس به دومره لیرې نه یم . خدای دې وکړي ، چه څوك راته پریشان نه وي . نور څوك خو نه ، خو هلك به راته خپه وي ، خو زه باور لرم ، چه دی به ما ډاډه دی . د ساحل ډېر سپین ږیري به هم پریشا نه وي . ډېر خلك به راته خپه وي . په یوه مهربان ښار کښې اوسېږم .

اوس نو زیاتې د کب سره نشو غږېدی ځکه چه کب له کاره وتلی و . بیا یې فکر کښې شه و ګرځېدل او بې ویل : « لیمه کبه ! پخوانۍ کبه ! زه پښېمانه یم

ACKU

چه ژلی دومره لری را ووتم . په لوی لاس می دواړه تباه کړل ، خو کېږه
مونږ ډیر ښار کان وو ژل ماو تا ډیر نور مو له کاره وایستل زړه کېږه ! تاپه
ژوند کښی څومره ښار کان وژلی دی ؟ داتیره نیښونه دی، خود ساعت تیری
دپاره نه دی.»

اوس یې پیازړه کېده چه په کب فکرو کړی او په دی فکر وکړی چه که
دی د او بو ژوی وی په ښارك به یې څه کړی وه . فکر یې کاوه کاشکی
می دښارك دښاتیری بڼې برې کړی وای ، چه یامی له هغو ښارك وژلی وای .
که داتیری بڼی راسره وای او د چېچې پورې می تړلې وای عجبه وسله به ور نه
جوړه وه . بیا به ما او کب دواړو دښارك سره جګړه کوله . که نن
شپه دربانډی راشی څنګه به کړې ؟ څه شی دې دلاسه پوره دی ؟

وبی ویل : « جګړه به ور سره وکړم . ترهغی به یې ور سره وهم چه مړشم . »
خواوس په توري تیاري کښی چه هیڅ رڼا نه وه او یواځی شمال و چه لګیده
او بادوان په شیبو شیبو ماکو را ښکه زاړه سړی ځان سره فکر کاوه ، چه
رښتیا به مړوی . لاسونه یې سره وو بڼال او خپړی یې یو پـه بل ولګولې .
بې حسه نه وی ، دلاس دګوتو په خوزو او کښی یې دژوند اثر لیدی شو ، ځکه
چه سوی یې کاوه . ډډې یې دماکو په ډډولګیدې . شانه یې تکیه وکړه او پوه شو ،
چه مړ نه دی . او ږوبی ورته وېل چه ژوندی یی .

څومره ډیرې وعدې می وکړی ، چه که کب می و نیو ، درود ونه او دوعـاوې
به وایم ، خواوس ډېر ستړی یم ، ویلی یی نشم . راځه چه جوال په او ږو وا چوم
سارړه دی .

پروت و او هماغسی په ملاستی یی ماکو دساحل خواته برابر ساته و د آسمان
امن یی دساحل درڼها بسی څارلـه .

فکر یی وکړ : نیم کب لرم ، دو مره نیکمرغی خو به لرم ، چه نیم کب
ورسوم . څه نه څه طالع خو به لرم .

فکر یې وکړ: نه تا له نیکمرغي سره هغه وخت خدای پاماني وکړه چه له ساحله دومره لیرې را غلی.

په جنګ غږ یې وویل: «کم عقلي مه کوه! ځان ویښ ساته! او خپل ماکو چلوه! لا به هم نیکمرغي در سره وي.»

وېې ویل: «که چیرته یې څوك خرڅوي، څه طالع به په بیه واخلم.»

له ځانه یې پوښتنه وکړه: په څه شي به یې واخلم؟ په خپل له لاسه تللي شلګی او ماتې چړې او دوه بیکاره لاسو به یې اخلم.

وېې ویل: «هو! وا به یې خلم. څلور اتیا ورځې دې په سیند کښې ورپسې تیرې کړې او نژدې دې اخستې هم وه.»

فکر یې وکړ: باید ناکاره فکرونه ونه کړم. نیکمرغي به راز راز بڼو سره تر راځي او څوك یې نه پیژني. خو په هرې بڼې چه وي زه مې کیږي چه لږ مې ترې اخستي وای او هره بیه چه یې غوښته ور کړې مې وای. کاشکې مې د ساحل د رڼا شغلې لیدلی. زه ته مې ډیر شیان کیږي خو اوس سمدستي هم دا د ساحل رڼا غواړم.

کوشش یې وکاوه چه ځان تکړه وساتي او ماکو وچلوي. د لاسو له سوي پوهیده چه مړ نه دی.

داسې ښکاریده چه د شپې لس بجې وې چه ده د ښار رڼا ولیده. اول یې د آسمان په لمن کښې یوه تته رڼا په سترګو ولیده. لکه د سپوږمۍ د رڼا چه له ختلو مخوا خوره شي. بیا نو د سیند د وږو په مخ چه اوس د شمال سره ګډ ځي ګوځي و رڼا لیدل کیده. ماکو یې د رڼو او بو مینځ ته برابر کړ او پوهیده چه ژر به په جریان ورګډ شي.

فکر یې وکړ: اوس نو تیره شوه. ښایي چه بیا حمله وکړي، خو یو بې وسلې سړی هغه هم په توره تیاره کښې څه شی کولی شي.

ځان یې یخ بیخ واو د لاسو او دوزخې او زبل شو و ځایو یې د شپې د یخنۍ سره

سوی کاوه. فکر یې کاوه: کاشکې بیا جنګ ته لاړ نشم.

ډېرمې زړه کېږي چه بل وار په جنګ وانه وړم.

خو نیمه شپه بیا جنګ ته لاړشو او دا وار پوهېده چه بېګټې جنګ دی.

په ګلو ګلو راتلل او ده یوا ځې هغه او زړه لیکه په اوبو کښې لید له چه: د دوی د شا بڼو جوړ وله. په لنډه ی کوټك بی به سر و واهه او دشـار کانو دداړو خړ پهار به بی او ریده. ګلمه به د ما کولا ندی ننو تل ما کو به ور سره و لړ زېد. په ډېره چابکۍ بی کوټك واهه. شارك یې نه لیدا او تش د څوزو په لار ښو د نې بی وار و نه کول. فکر یې شو چه کوټك څه شی ور نه کش کړ او بله شیبه بی کوټك ترې وړی و.

او زده ډانګه بی له ما کو وشکوله او په دوا ړو لاسو بی جګوله او کوزه بې را برې ایستله. خوشار کان اوس ټول پاس ختلی و او یو ډبل پسې بی څو ټې کولې اوله کبه بی غوښه څیرله.

په آخر کښې یوشارك د کب د سرخواته راغی او زوړ سړی یوه شوچه په نورځی کښې څه نه دی پاتې. ډانګه بی له سره تاو کړه او د شارك په سر بی راخطا کړه، بیابی له سره تاو کړه. د ډانګې د ماتېدو خړپهار بی واوریده چه په سمه نیمایی ماته شوه. د ډانګې لاستی بی په تېرو د شارك په سر وما نهه. دمات شوی څوکې تېری لیشکې بی وایدی، چه دشارك په سر ننو تلی. بیا بی وایستله او بیابی به سر ور ومنډله. شارك کب خوشی کړ او په اړخ واوښت. دا د ګلی آخری شارك و. نور په کب کښې د خوړلو شی نه وه پاتې.

زاړه سړی په ډېره سختۍ سا ایستله او خوله بی عجیب شان ته خوند کاوه. لکه د مسو څو ندی تروشې او په وی. زوړ سړی و ویریده خوله بزه شیبه وروسته بی د خولی خوند بیرته ښه شو.

په سنیله کښې یې لاړې تو کړی او ویی ویل: «حرامونه واخلئ، دا وخوری او بیا ورځی، ملګرو ته لا فی وهئ، چه مونږ بنیا دم وژلی دی.»

ACKU

اوس نو پوهیده چه ماتې یې وخوړه ، د ډانګې لاستی بیا موند او بیرته یې په ماکو پورې وتاړه ، پوهیده چه له دې مات لاستي نه هم د ماکو په چلولو کښې کار اخیستی شي . چوال یې په اوږو وغړاوه او ماکو یې بیرته د ساحل خواته برابر کړ ، اوس یې ماکو په آسانۍ چلاوه او هیڅ ډول فکر او احساس ورته پاتې نه و . اوس له هرشي خلاص وا و یواځې یې بندر ته د رسیدو دپاره په مهارت ماکو چلاوه . وروسته نو روشارګانو هم په کښ حملې وکړې ، خو داسې لکه چه مارغان یې د خځو شو پسې ګوي .

ده هیڅ مخ وروانه ړاوه او چپ د ماکو له چاولو بې هیڅ شي ته پام نه و ، تش دومره یې پام و چه ماکو اوس بیخی سپك و او په اسانه چلیده .

فکر یې وکړ: ماکو تکړه دی او چپ له ډانګې نور بیخی روغ دی ، ډانګه به بیا بله ورته جوړه کړم .

پوهیده چه اوس په جریان کښې دی . د بندر رڼا یې لیدلې شوه . په دې هم پوهیده چه په کوم ځای کښې دی او ساحل ته رسیدل اسان کار و .

فکر یې وکړ: باد زمونږ ملګری دی . بیا یې فکر وکړ ، په سمندر کښې هم زمونږ ملګري شته . دښمنان موهم شته . فکر یې وکړ: کټ مې ښه ملګری دی . اوس مې کټ په کار دی بس . کټ به عجیبه خوند کوي . چه یو واری سړی ماتې وخوري بیا هر څه اسان شي . زه نه پوهېدم چه ماتې به دومره اسانه وي . پوهیږې چه څه شي ماتې درکړه ؟

ویې ویل : « هیڅ شي . ډیر لرې را ووتم »

کوم وخت چه په بندر ننووت د چوترې رڼا ته بې پام شو چه بله نه وه . پوه شو چه ټول ویده دي . شپه پخه وه او د سیند وږمه په قوت چلیده . په بندر کښې چوپ چوپیاوه . زاړه سړي ماکو یوې لوېې ګاري ته نژدې ودراوه . هیڅوك نه و چه مرسته ور سره وکړي نو یې ماکو پخپله څومره چه یې امکانه کیده وچې ته نژدې کړ . بیا نو ترې کوز شو او ماکو یې په ګارې پورې

و تاړه . د باد وان توته یې له لکړې تاو کړه او په او ږو یې کړه . په همدې وخت کښې یې دځان ستومانۍ ته پام شو . بوه شیبه په ځای ودرېد او بیر ته یې او بو ته وکتل . د کوڅو په رڼا کې یې د کب پلنه لکۍ ولیده چه دما کې شاته نیغه ولاړه وه دملا دتیرلیکه او غونډاري سرېي و لیدا او د کب د هډو کو تشه پنجره یې په ستر ګوو لګیده .

په بورته کیدو یې پیل وکړ او چه سمې ته را و خوت ولوید . څه شیبه یې بادوان په او ږو او دې پروت وپاتیدو ته یې هڅه و کړه ، خوونه شو . همداغسې باد وان په او ږ و ناست و او مخامخ لارې ته یې کتل . دسرك په هابله غاړه بو ه پیشو روانه وه او زاړه سړی ورته کتل .

بیایې نوتش سرك ته کتل .

په اخر کښې یې بادوان په مځکه کښېښود او ودرېد . بادوان یې جګ کړاو بېرته یې په او ږو کیښود او په سرك روان شو . تر څو چه خپلې کوډۍ ته رسیده پنځه وارې دمې ته مجبور شو .

کوډۍ ته په رسیدو یې بادوان دیواله ته تکیه کړ . په تیارې کې یې داوبو بوتل پیاموند او یو غړپ یې تری و کړ . بیا نو په کټ پرېووت . بړستن یې په اوږو او بیایې په ډډو اولینګیو کش کړه او پړمخې دورځپا نود پاسه خوب یووړ .

دی لاویده و چه هلك سهاردوره له خولې دننه و کتل . دومره زور ور باد لګیده چه په دې ورځ ما کو ګان سیند ته نه وتل . هلك تر ناوخته ویده و او بیا نو لکه هرسباد زاړه سړی کوډۍ ته راغلی و .

هلك ولیده چه : په زاړه سړی کښې ساه وه . دزاړه سړی لاسو نه یې ولیدل او ژړدې وچه په چیغو سرشی . خو په کرارۍ دباندې ووت چه زاړه سړی ته تو د چای راوړی او په درسته لارېې ژړل .

په ساحل کښې ډیر کب نیو ونکې دزاړه سړی دما کو ګر چا پیر ولاړ و و او دما کو پورې تړلې شی ته یې کتل . یوه سړی خپلې پایڅې بډ وهلې او او بو ته

ACKU

کوز شو. په یوه مزی یې د کبتنه اندازه کړه.

هلك دوی ولیدل، خو ور کوز نشو ځکه چه تر نور و لادو خته دلته راغلی و او ما کو یې په یوه کب نیوونکی سپارلی و.

یوه لهساحله هلك پسې چیغه وکړه: «څه حال لرې؟»

هلك غبز وکړ: «و یده دی څوك دی نه ورځي.»

خلکو یې ژړ الیده له خوده پروانه کوله.

هغه کب نیوونکی چه د کب تنه اندازه کوله هلك پسې غبز کړه «له الکې نه تر پوزې پورې اتلس فوټه دی.»

هلك وویل: «درسته ده.»

هلك بازار ته ولاړ او له دوکاندار یې یوه قطی کافی وغوښته. و یې ویل: «ښه سره کافی را کړه چه پیرې شودې او بوره ولري.» دوکاندار وویل: «نور»

«هیڅ. بیا به و ګورم چه نور څه غواړې.»

دوکاندار وویل: «عجیبه کب دی. داسې کب مې هیڅ پیرې نه دی لیدلی. هغه دوه کبان چه تاپرون راوړل هغه هم ښه کبان وو.» دهلك شونډې مړې مړې شوې او ویې ویل: «بلادې زما په کب شی.» دوکاندار وویل: «څه څښاك دې په کار نه دی؟».

هلك وویل: «نه خلکو ته وایه سانتیا ګوله خو به پانه څوې. زه یې یاراځم»

دوکاندار وویل: «ورته وایه چه دی درته خپه و.» هلك وویل: «تشکر.»

هلك دزاړه کافی سره قطۍ دزاړه سړی کوډۍ ته یووړه او ترهغې یې څنګ ته کښیناست چه ویښ شو. یخواتردې هم بوواری په ځای کښې داسې ښور یدلی و لکه چه ویښ شوی وی خو بیرته په درانه خوب پریوتی و. هلك له کوډۍ و ووت چه د کافی دتودولو دپاره له چاڅخه لرګی پور کړي. آخر زوړ سړی ویښ شو.

هلك لږه کافی به ګیلاس کښې تویه کړه او ویې ویل: «مه پاڅېږه هه داو څښه.»

زاړه‌سړي گیلاس واخیست او کافي یې وڅښله .
وېي‌ویل :«مانو لینه‌شار کانو ماتې را کړه. پوره‌ماتې یې را کړه.»
هلك‌وویل:«هغه خودر باندې زور ور نشو. کب‌شبیم .»
زاړه سړي وویل :«نه‌خووروسته مې‌ماتې وخوړه .»
«پیډریسکومې کبینولې چه ما کوووساتې ته څه وایې چه د کب سرد ې څنګه شی ؟»
«پیډریکودې‌سر پرې کړی او ځان ته‌دې د کب نیولو شومه‌ور نه جوړه کړی.»
«د کب نیش څنګه؟»
«نیش ته که‌دې شوق ورته کیږي ؟»
هلك وویل:«هو!شوق مې‌ورته کیږي‌اوس‌نو باید دنور وشیانو بندوبست‌و کړو.»
زاړه سړي‌وویل :« چاراپسی لټون ونه کړ ؟»
هلك‌وویل : «ولی نه‌الوتکی اوساحلی سا تونکودرپسی‌لټون و کړ .»
زاړه سړي وویل : «بحردېر لوی دی‌اوما کووو ړ .»
دزاړه سړی‌پام شو چه‌څومره شه‌وی ددی په‌ځای چه‌سړی د ځا ن ا و سیند سره وغږیږي،دبل بنیادم سره‌مر که و کړ ی .
وېي و یل : « ډېر مې یاد یدې . تاڅه شی نیو لی ؟»
هلك‌وویل : « « یومې په لومړ ی ورځ ونیو،یومې په‌دویمه ورځ او د وه مې په دریمه ورځ ونیول .»
« ډېر ښه .»
هلك و ویل : « پس له د ې‌بیا زه‌اوته یوځای کبان نیسو .»
زا ړه سړي‌وویل : « نه زه نیکمرغه نه یم . » زمادنیکمرغی دور ان ز یا تی تیر شو .»
هلك و ویل : « بلا دې په‌نیکمرغی شی . زه به‌بې دځانه سره‌راوړم .»
« بلار به‌دې څه و ا یی ؟»

«هرڅه چه‌وایی وایی دي . دوه کبان‌مې پرون ونیول خو نو ر ستا سره کبان نیسم ځکه چه ډیر شیان باید لا زده کړم .»

زاړه سړي وویل: «داو اری به‌یوه ښه نیزه‌جوړه کړو او تل یې په‌ما کو کښې د ځانه سره وساتو - . تیغ خوېی دزاړه موټرله فنر څخه‌جوړولی شو . ټټارته به‌یې و ر کړو چه ښه‌یې تیره کړي. باید ښه‌تیره‌وي‌اومات‌نشي.زماچاړه‌ماته شوه .»

هلك و ویل : «بله چاړه به درته و اخلم . فنر به‌هم ټټارته یوسم د ا سیلۍ به‌څوورځی‌وی ؟».

«د ر ی ورځی . یا به تردرو ز یاتی .»

هلك و ویل : «ز ه به د هرشي سرشته ونیسم . ته دې د لا سو غم وخو ره چه جوړ شی .»

«دلا سو چاره به و کړم خوشپې می څه عجیبه غونډې خونډ تر خو لی شو او داسې راته وبر یښیده چه‌د سینی په‌مینځ کښې می کوم شی‌مات‌شوی‌وی .»

هلك و ویل : «دهغې چاره هم و کړه کرار پر یوځه . زه به دې پاك کمیس درته راوړم . خوراك ته‌به دې هم څه شی در برابر کړم .»

زاړه سړي وویل :«زمادتلو نه‌پس کوم‌ا خبار که‌وی‌دځانه سره‌یی‌راو ړه .»

هلك و ویل : «ته باید ژرد خیره سره‌روغ شې چه ډیر شیان درنه زده کړم .په سیند کښې‌دې څومره تکلیف ولید ؟»

«ز ښت ډ یر ».

هلك و ویل : «ته کرار د مه و کړه . زه‌به ډو ډ ی‌او اخبار را وړم . ستاد لاسو دپا ره به هم څه دارو راوړم .»

«هیردې‌نشی چه پید ریکوته ووا یی چه د کب سر دده شو .»

«نه،نه‌می هېر نېږی »

هلك له کوډی ووت او پر ښو ډك سرك روا ن شو . په لا ر ه کښې بې بیا به ژ ړ ا پیل و کړ .

ACKU

په دغه ماسپښين د ګرځيدو يوه ډله د ساحل په شګو راغونډه شوې وه. په اوبو کښې يې د بيرد تشو قطيو او ماکو ګانو ننداره کوله.

په همدې وخت کښې د يوې ښځې پام شو چه په اوبو کښې د کوم شي د ملا تير او پلنه لکړه د څپو د جګيدو او ټيټيدو سره ښوري.

ښځې د هغو کوډتنې خواته ګوته ونيوله او د ساحل يوه چوپړ نه يې پوښتنه وکړه: «هغه څه شي دي؟»

هغه وويل: «کب دي شار کانو خوړلی دی.» چوپړ غوښتل چه قصه ور ته تيره کړي خو ښځه يې په ژبه نه پوهېده. مخ يې خپل ميړه ته کړ و يې ويل: «زه نه پوهيدم چه شارك به داسې ښايسته او ګلالې لکړه لري.»

ملګري يې وويل: «زه هم نه پوهېدم.»

زوړ سړی په خپلې کوډۍ کښې ويده و. لا هم پړمخې پروت وا و هلك يې څنګ ته ناست و او ده ته يې کتل. زاړه سړي د افريقي ځمري په خوب کښې ليدل.

urdu-classics.blogspot.com



ارنسټ هیمنګ وې

## د ليکوونکي لنډه پيژندنه

ارنسټ هیمنګ وې په ۱۸٦۸ کال کښې دامریکې دا **او**نای په ایالت کښې زیږیدلی دی .

دځوانۍ کلونه یې دپلار سره په ښکار ، بوکسنګ او فوټبال تیر کړي دي .

وروسته یې په ژورنالیزم او روزنامه نګارۍ ګوتې پورې کړې .

هیمنګ وې همداسې چه دقلم څاوندا و دعمل سړی هم و . په لومړۍ عمومي جګړې کښې یې دایټالیې په محاذ کښې خدمت کاوه ددویم عمومي جنګ ورانې وجنګړې ئې په خپلو سترګو لیدلې دي .

ده لومړي دژورنالیزم سره مینه درلوده خو وروسته یې د خیالي داستانو په لیکلو پیل وکړ. د ده لومړی ناول د « لمرهم راخیژي » په نامه په ۱۹۲۶ کال کښې خپور شو. په دې لړ کښې یې دویم کتاب « دوسلې سره وداع » دی، چه د جنګ تاثرات او تباهی او هغه ونړولې ورځې چه پخپله په ده تیرې شوې په کښې ښکاري.

ددې اثر نه تر او سه دوه وارې فلمونه جوړ شوي دي. په ۱۹۴۰ کال کښې یې بل مشهور کتاب « نو بتونه د چا دپاره زنګېږي » چاپ شو، د ده اخري شاهکار چه د ده استادي یې په ثبوت رسولې او د ملنه همدغه وړوکی ناول دی چه لومړی ځل په ۱۹۵۴ کال کښې چاپ شو.

هیمنګ وې د ترسیم او په تیره د خبرو او دیالوګ په واسطه د ترسیم په چارو کښې بې ساری دی. د ده قهرمانان ټول ځمکني او واقعي دي او هیڅکله یې دی په خیالي وزرونه سپروي.

هیمنګ وې په ۱۹۶۱ کال کښې، سبز کال د جولایي په دریمه نیټه د ۶۲ کلو په عمر د ټوپک ډزا کولو په وخت کښې سهواً ځان وویشت.



سعدالدین «شپون»

PROPERTY OF ACKU 32321

# THE OLD MAN AND THE SEA

by

ERNEST HEMINGWAY

TRANSLATED

by

SADUDDIN « SHPOON »

AURANG ZEB QASMI
DISTRICT MARDAN
TEHSIL KATLANG

دولتي مطبعه

Download from: aghalibrary.com